وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً

# د حج او عمرې لارښود

## آسانه ، مختصر او هر اړخيز

تأليف

آن لاين اسلامي لارښود

www.dawat610.com

سریزه..................................................................................................................................٥
**لومړی فصل**...............................................................................................................................٦
د حج پیژندنه ..........................................................................................................................٦
د حج حکم....................................................................................................................................٦
د حج فضائل.................................................................................................................................٧
د حج د فرضیت شرطونه ( په کومو کسانو حج فرض دی ؟ )....................................................................٨
**دوهم فصل**.............................................................................................................................. ١١
د حج حکمت او په حج کې د عبرت درسونه........................................................................................ ١١
د حج د حکمتونو لنډیز................................................................................................................. ١١
د کعبې شریفې لنډه پیژندنه........................................................................................................... ١٦
د حج د سفر څخه مخکې آداب ....................................................................................................... ٢٠
د حرمینو شریفینو مېلمنو ته څو وصیتونه.......................................................................................... ٢٥
**دریم فصل**................................................................................................................................. ٣٠
د حج میقاتونه ............................................................................................................................ ٣٠
اصطلاحات.................................................................................................................................. ٣٢
د حج قسمونه.............................................................................................................................. ٣٥
د عمرې مفصل بیان....................................................................................................................... ٣٦
د عمرې د ادا کولو لنډه نقشه ........................................................................................................ ٣٧
عملي لارښوونې ........................................................................................................................... ٤٢
د حج او عمرې مختصرې دعاګانې ...................................................................................................... ٤٣

**څلورم فصل** ........ ٤٨
د حج د ادا کولو لنډه نقشه ........ ٤٨
د حج د ادا کولو مفصل بیان ( د حج پنځه یا شپږ ورځې) ........ ٤٩
د حج لومړۍ ورځ د ترویه ورځ (د ذوالحجې اتمه ) ........ ٥٠
د حج دوهمه ورځ د ذوالحجې نهمه یا د عرفې ورځ ........ ٥١
د حج دریمه ورځ د اختر ورځ (د ذوالحجې لسمه ) ........ ٥٣
د حج څلورمه ، پنځمه او شپږمه ورځ ........ ٥٦
د مناسکو د ادا کولو تفصیل ........ ٥٦
د طواف کولو طریقه ........ ٦٥
په عرفات دریدل ........ ٧٤
په مقام ابراهیم کې لمونځ او د صفا مروه ترمنځ سعی ........ ٧٥
د جمرو ویشتل ........ ٧٨
قرباني ........ ٨٠
حلق او تقصیر ........ ٨٢
طواف زیارت ........ ٨٥
د دریو واړو جمرو رمی ........ ٨٥
طواف وداع یا طواف صدر ........ ٨٦
د حج ارکان ،واجبات او سنتونه ........ ٨٦
په حج کې جنایات ........ ٨٨
**پنځم فصل** ........ ٩١
د مدینې منورې زیارت ........ ٩١

**شپږم فصل** ........ ۹٤
حج بدل ........ ۹٤
د حج د فرضیت څو مهم مسائل........ ۹۷
د فرضي حج څخه مخکې عمره کول جایز دي ؟ ........ ۹۸
که څوک د نوکرۍ په حالت چې حج ورباندې فرض نه وي حج وکړي ایا د اسطاعت نه پس په هغه دوباره حج فرض دی ؟........ ۹۹
د تي خوري ماشوم سره حج ته تلل جایز دي ؟........ ۹۹
ښځه د محرم څخه پرته حج ته تلای شي ؟ ........ ۱۰۱
مأخذونه ........ ۱۰۳

## سريزه

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين وسلم تسليمًا كثيرًا، أما بعد:

ورونو او خويندو ! حج زمونږ د سپېڅلي دين داسې ركن دی چې پر توانا مسلمان باندې په ټول ژوند كې يو ځل فرض دی او د كال په اوږدو كې يو ځل په ځانګړي مهال ، ځانګړي ځای او ځانګړو او ټاكلو افعالو سره تر سره كيږي . نو څنګه چې دا فريضه د نورو عبادتونو غوندې زياته نه تر سره كيږي له دې امله حج كوونكي د هغه د ادا كولو پر مهال له ستونزو سره مخ كيږي .نو اړينه ده چې حج ته تلونكي د حج احكام او مناسک د يو معتبر كتاب په مرسته په سمه توګه ادا كړي .

دغه (د حج او عمرې مختصر احكام) كتاب د حج او عمرې په ټولو ضروري او اړينو احكامو او مسائلو مشتمل دی او ددې كتاب په ليكلو كې د نړۍ د معتبرو منابعو څخه استفاده شوې ده .

ددې كتاب په ليكلو كې ډير كوښښ دا شوی دی چې احكام يې داسې مختصر ، ساده ، عملي او عام فهمه وي چې هر څوک په آسانۍ سره ورڅخې استفاده وكړای شي .

الله سبحانه و تعالى دې زما دغه كوچنۍ عمل د ضيوف الرحمن ( الله تعالى مباركو مېلمنو) حجاج كرامو لپاره يو خدمت وګرځوي او الله تعالى يې پخپل دربار كې قبول كړي.

و ما توفيقي الا با لله عليه توكلت واليه انيب

آن لاين اسلامي لارښود

www.dawat610.com

## لومړی فصل

### د حج پيژندنه

حج په لغت کې قصد کولو ته وايي او د شريعت په اصطلاح کې مکې مکرمې ته په خاص وخت کې د مناسکو ادا کولو د پاره قصد کولو ته حج وايي .

**د حج مناسک :** عبارت دي له، احرام تړل ، د کعبې شريفې طواف کول ، د صفا او مروه سعی کول ، حلق او تقصير ، په عرفات درېدل ، رمی جمرات او نور .

**د حج خاص وخت :** د حج مياشتې دي لکه : شوال ، ذو القعدة ا وذو الحجة او بيا د هر فعل لپاره خاص وخت دی .

## د حج حکم

حج د اسلام پنځم رکن دی چې پر هر هغه نارينه او ښځه باندې چې د حج د ادا کولو توان ولري فرض دی .

الله سبحانه وتعالى فرمايي :[وَلِلّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلاً وَمَن كَفَرَ فَإِنَّ الله غَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ][١] .

ژباړه: پر خلکو د الله تعالى دا حق دی چې څوک د هغه کور ته (بيت الله شريف ته ) د رسيدو د لارې توښه او وس ولري د هغه حج وکړي ، او که څوک ددې امر له عملي کولو څخه ډډه وکړي نو هغه دې په دې پوه شي چې الله تعالى له ټولو نړيوالو څخه بې نيازه دی .

ابى هريره رضى الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «يَا أَيُّهَا النَّاسُ، قَدْ فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُم الْحَجَّ فَحُجُّوا»[٢] .

ژباړه: ای خلکو! يقيناً الله تعالى پر تاسې حج فرض کړی دی نو حج وکړئ .

---

[١] – سوره آل عمران :٩٨ .

[٢] – رواه مسلم ، أحمد و النسائي .

همدارنګه فرمايي :«بُنِيَ الْإِسْلَامُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَإِقَامِ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَصَوْمِ رَمَضَانَ»[١] .

ژباړه: د اسلام پنځه بناوې دي : په دې ګواهي ورکول چې له الله پرته بل معبود بر حق نشته او حضرت محمد د هغه بنده او استازى دى او د لمونځ ادا کول او د زکات ورکول او د رمضان روژه نيول او د بيت الله شريف حج کول .

د جمهورو په نزد حج د هجرت په نهم کال فرض شوى دى[٢] .

## د حج فضائل

له ابى هريرة رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : «مَنْ حَجَّ هَذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ أُمُّهُ»[٣].

ژباړه: څوک چې د الله تعالى لپاره حج وکړي د شهوت او ګناه خبرې او کارونه ترک کړي هغه به داسې پاک را وګرځي لکه په کومه ورځ چې دى مور زېږولى وي .

ابى هريرة رضى الله عنه روايت کوي چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چا پوښتنه وکړه چې کوم عمل افضل او غوره دى ؟ هغه وفرمايل : « إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ . قِيلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ . قِيلَ : ثُمَّ مَاذَا ؟ قَالَ : ثُمَّ حِجٌّ مَبْرُورٌ »[٤] .

ژباړه : پر الله تعالى او د هغه پر رسول باندې ايمان راوړل دي ، وېې ويل بيا کوم عمل غوره دى ؟ هغه وفرمايل : د الله تعالى په لاره کې جهاد ، وېې ويل بيا کوم کار غوره دى ؟ هغه وفرمايل : مبرور او قبول شوى حج .

---

[١] – رواه البخاري.
[٢] – فقه الاسلامي و ادلته ، حاشيه ابن عابدين ٢/١٩٠ .
[٣] – رواه الخاري ، مسلم ، ابن الماجه و النسائي .
[٤] – رواه البخاري و مسلم و الترمذي و النسائي .

له ابی هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : «الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ كَفَّارَةٌ لِمَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةَ»[١] .

ژباړه: یوه عمره تر بلې عمرې د هغه ګناهونو کفاره ده چې د دوی تر منځ وي او د قبول شوي حج بدله پرته له جنت څخه بل شی نه دی[٢] .

له عائشې رضلی الله عنها نه روایت دی چې له رسول صلی الله علیه وسلم څخه مو پوښتنه وکړه آیا په ښځو جهاد شته ؟

قَالَ «نَعَمْ. عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لاَ قِتَالَ فِيهِ: الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ»[٣] .

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو : په ښځو داسې جهاد دی چې په هغه کې قتال نشته هغه حج او عمره ده .

ابی هریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ. إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ، وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ»[٤] .

ژباړه:حاجیان او عمره کوونکی د الله مېلمانه دي که هغوی الله تعالی ته دُعا وکړي هغه یې قبلوي (ځکه چې د مېلمه خواهش ضرور پوره کیږي ) او که هغوی د الله تعالی څخه عفوه وغواړي نو هغوی ته ښنه کیږي .

## د حج د فرضیت شرطونه ( په کومو کسانو حج فرض دی ؟ )

١- اسلام : په کافر باندې حج واجب نه دی ، کچېرې یې ادا کړي نه صحیح کیږي .

٢- بلوغ او عقل : په ماشوم چې بلوغ ته نه وي رسیدلی او لیوني باندې حج فرض نه دی ځکه چې دوی شرعي مکلفیت نلري .

---

[١] – حدیث متفق علیه .

[٢] - مبرور یا قبول شوی حج هغه دی چې اخلاص پکې وي او مناسک یې د شرعي موافق ادا شي ګناه پکې نه وي .

[٣] – رواه الماجه .

[٤] – رواه أحمد و ابن ماجه بالاسناد صحیح .

۳- حریت : په غلام او بندي باندې حج واجب نه دی .

یعني دا چې د ظالم حکومت لخوا څه منع نه وي او یا په جیل او زندان کې نه وي (آزاد ) وي .

۴- مالي او بدني توانایي او د لارې امینت :

حج په عمر کې یو ځل فرض دی ، ددې رکن منکر کافر دی او د فرض کیدو د شرایطو برابر کیدو باوجود نه ادا کول واله فاسق او ګنهکار دی ، لکن حج په هر مسلمان فرض نه وي بلکه پر هغه چا فرض دی چې توان او استطاعت یې ولري .

لقوله سبحانه و تعالی : [وَ للهِ عَلَي النَّاس حِجُّ البَيتِ مَنِ استَطَاعَ إلَيهِ سَبِيلاً][1] .

ژباړه : او حج د دغه الهي خونې پر هغو خلکو فرض دی چې (مالي او بدني ) توانایي ولري .

استطاعت درې قسمه دی : بدني ، مالي او امنیتي ، استطاعت بدني عبارت له صحت څخه دی، پس په مریض ، فلج ، ړوند چې لارښود ورسره نه وي ، د زیات عمر واله چې په الوتکه ، موټر او کراچۍ کې ځان نشي نیولای یا دومره ضعیف وي چې سفر او د حج د مناسکو د ادا کولو هیڅ توان نلري ، حج فرض نه دی .

او مالي استطاعت عبارت دی حج ته د تللو او راتللو او هلته اوسیدو خرڅ او مصارف ولري او همدارنګه د خپل اهل عیال د کومو چې نفقه د ده په ذمه وي د بیرته راتګ تر وخت پورې د هغوی د پاره خرچ ولري .

او امنیتي استطاعت عبارت دی د لارې د امنیت څخه چې د نفس ، مال او ناموس د هلاکت وېره نه وي .

**د ښځو حکم** : د ښځو د پاره ددې شرطونو سره دوه شرطونه نور هم دي

اول : هغه به یوازې نه ځي بلکې خاوند او محرم به ور سره وي .

---

[1] – سوره آل عمران :۹۷ .

دوهم : دوهم شرط دا دی چې هغه به په عدت کې نه وي ، عدت که د خاوند د مرګ وي او که د طلاق وي [1].

**د عذرونو بیان :**

۱- که پر چا حج فرض وي او مور او پلار يې ناروغ وي او د ده خدمت ته ضرورت ولري د هغوی څخه بې اجازې تګ مکروه دی .

۲- د نفلي حج لپاره د مور او پلار د اجازې بغیر حج ته تلل مکروه دي .

۳- که د چا اولاد کوچنی وو او د ساتنې لپاره يې بل څوک نه وو نو دا د حج د ځنډولو لپاره يو عذر دی .

۴- که يې زوی ښایسته وو او د فتنې د وریېښېدو وېره وه تر هغه چې ږیره یې راځي پلار يې له حج څخه پاتې کیدای شي .

۵- که د ښځې محرم نه وو نه دا هم عذر دی .

۶- که لار په امن نه وه او غالباً د هلاکت وېره وي دا هم عذر دی .

۷- داسې ناروغي چې له امله يې سفر نشي کولای .

۸- د ښځې د پاره عدت هم عذر بلل کیږي او په دې سبب حج ځنډولای شي .

۹- چې آزاد نه وي او سيد يې اجازه نه ورکوي .

۱۰- د چا ضامن نه وي : که ده د چا ضمانت کړی وي نو بیا د ضمانت په دور کې حج کول صحي نه دي .

[1] – فقه الاسلامي وادلته ،البدائع:2/121-125، الدر المختار: 2/194-199.

۱۱- کچیرې سړی پوروړی وي نو د پور ورکوونکي د اجازې پرته حج ته تلل صحي نه دي مګر که د قرض ادا کولو نیته د حج څخه وروسته وي باک نلري او یا هم پور ورکوونکی هغه ته اجازه ورکړي نو بیا باک نلري[۱] .

## دوهم فصل

## د حج حکمت او په حج کې د عبرت درسونه

حج د اسلام له ارکانو څخه هغه ستر رکن دی چې په دې عبادت کې ډیر حکمتونه او عبرتناک درسونو نغښتي دي ، حج په هر کال کې په نړیواله سطحه د مسلمانانو لویه غونډه او اجتماع ده چې یو له بله خپل نظریات ، سیاست ، اقتصاد ، کلتور او د مشکلاتو حل ، په نړیواله سطحه اسلامي وحدت ،علوم او تجربې په داسې حال کې یو له بله شریکوي چې د الله تعالی د رحمت تر سیورې لاندې خاص د الله تعالی د رضا لپاره په یو مقدس ځای او مقدسو ورځو کې سره ټول شوی وي.

حج د اسلام د شعائرو یو نمونه ده چې د خاصو مناسکو ، خاصو ورځو او خاصو ځایونو او احکامو سره ادا کیږي ، هماغه شعائر چې تعظیم او احترام یې د زړه تقوی او د خیر سبب دی لکه چې الله سبحانه وتعالی فرمایي : [وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ][۲] .

## د حج د حکمتونو لنډیز

۱- حج د الله تعالی د بنده ګۍ او فرمانبردارۍ ښکارندوی دی ځکه چې حاجي د دنیا د آرام ټول اسباب ترک کوي ، اهل عیال پرېږدي ، د دنیا د ټولو مشغولتونو څخه خپل زړه او فکر خالي کوي ، د حرمین شریفین په لورې سفر کوي ، خپلې قیمتي جامې باسي د کفن په څیر دوې سپینې جامې اغوندې د الله تعالی په یاد کې د الله تعالی د داسې بیتې طواف کوي چې الله تعالی یې د طواف حکم

---

[۱] – فقه الاسلامي وادلته ، البدائع:2/120، الدر المختار : 2/200.

[۲] – سوره الحج :۳۲ .

کړی دی ، هغه مقدسه کعبه شریفه چې لومړی د ملائکو په لاسونو بیا د آدام علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، اسماعیل علیه السلام او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاسونو جوړه شوې ده ، په مسجد الحرام کې په داسې حال کې د الله تعالی په حضور کې لمونځ کوي چې کعبې یې مخې ته قرار لري او میلینونه مسلمانان حضور لري ، دا هغه جومات دی چې په دې جومات کې یو لمونځ د یولکو لمونځونو برابر ثواب لري .

۲- د عرفات په صحرا کې د مسلمانانو لویه اجتماع د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع د آخري حج یاد دی چې په دغه صحرا کې رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله اوښه سپور ؤ او د هغه چاپیر یولک څلویشت زره عاشقان صحابه جمع شوی وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل امت لپاره مهم امور اعلانول او د خپل امت د بخښنې او اصلاح لپاره یې په ډیره عاجزۍ سره دعا کوله .

دا د ژړا او زاریو ، بخښنې او دعا ځای دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : «په دې ورځ شیطان تر بلې هرې ورځې نه زیات ذلت او خواريویني ځکه چې د بندګانو ګناهونه معاف کیږي»[1] .

همدارنګه عایشې رضی الله عنها روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي :

«مَا مِنْ يَوْمٍ أَكْثَرَ مِنْ أَنْ يُعْتِقَ اللَّهُ فِيهِ عَبْدًا مِنْ النَّارِ مِنْ يَوْمِ عَرَفَةَ وَإِنَّهُ لَيَدْنُو ثُمَّ يُبَاهِي بِهِمْ الْمَلَائِكَةَ فَيَقُولُ مَا أَرَادَ هَؤُلَاءِ»[2]

ژباړه: داسې ورځ نشته چې په هغې کې الله تعالی د عرفې د ورځې نه زیات د خپلو بندګانو د دوزخ د اور څخه د نجات فیصله وکړې- په دغه ورځ الله تعالی د خپلو بندګانو باندې د رحمت نزول کوي ، او په

[1] - موطاء امام مالک .
[2] - رواه مسلم .

دوی باندې فخر کوي فرښتو ته وايي : [ما اراد هؤلاء ] يعني : تاسې وينئ زما دا بندګان دلته د څه مقصد د پاره راغلی دی ؟ .

په دې صحرا کې د ميليونو مسلمانانو توليدل په داسې حال کې چې د کفن په څير جامه اغوستې سرتور سر د حشر د ورځې يو ياد دی .

۳- د صفا او مروه تر مينځ سعې د بی بی هاجرې رضی الله عنها د لوي استقامت ،صبر او قربانی ياد دی .

کله چې ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په حکم خپله بې بې هاجره رضی الله عنها سره د خپل تي خوري بچي اسماعيل عليه السلام د مکې په وچه دښته کې چې نه هلته آبادې وه او نه هم اوبه پريښودل او ابراهيم عليه السلام د شام په لورې روان شو او کله يې چې د اهل څخه نظر فنا شو نو د الله تعالی په دربار کې يې داسې دعا وکړه :

[رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ][1] .

ژباړه : ای زما ربه ! ما خپل اهل عيال په يوه بې کښته او بې اوبو دښته کې ستا د محترم کور تر څنګ ميشت کړل .

د بې بې هاجرې سره څه خرما او اوبه موجود وو کله چې هغه اوبه خلاصې شوې اسماعيل عليه السلام له تندې سره مخ شو بې بې هاجرې د اوبو په لټه کې د صفا او مروا دوو غونډيو تر مينځ اووه ځله مندې ووهلې کله چې د خپل بچي خوا ته راغله ګورئ چې د هغه په پښو کې اوبه روانې دي بې بې هاجرې اوبه ته وويل زم زم (ودرېږئ ) چې دا د اوبو چينه اوس د زم زم په نوم يادېږي .

او د صفا او مروا تر مينځ د حاجيانو سعې کول د بې بې هاجرې د سعې يادګار دی چې د قيامت تر ورځې به ژوندی وي ، الله (جل جلا له) ته د بې بې هاجرې صبر ، استقامت او د الله تعالی د حکم منل

[1] – سوره الحج :۳۸.

دومره خوښ شول چې د دغه بي بې منډې او سعې يې د قيامت تر ورځې پورې د عالم د پاره يو يادګار او عبرت وګرځولو او حاجيانو ته حکم شوې دی چې د دغه بي بې د منډو پر ځای به منډې وهي کوم چې د صفا او مروه تر مينځ سعې دي .

۴- په منا کې د حاجيانو وقوف او د جمرو ويشل د شيطان پر وړاندې د بت ماتوونکي ابراهيم عليه السلام د ستړې مبارزې او ستړې قرباني ياد دی .

په ابراهيم عليه السلام باندې د الله تعالی ددې ابتلاء وروسته چې هغه ته حکم وشو چې خپله بي بې او ماشوم د مکې په وچه دښته کې پرېږده ابراهيم عليه السلام د الله تعالی په حکم خپله بي بې او ماشوم بچی د مکې په وچه صحرا کې پرېښودل او په دې ابتلاء کې کامياب شو ، ددې نه وروسته پر ابراهيم عليه السلام باندې بله ابتلاء راځي چې خپل هغه ماشوم زوی دې ذبحه کړه چې نوې تنکی ځوانی او د مور سره د منډو تړړو سن ته رسيدلی دی ، الله سبحانه وتعالی فرمايي :

[فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ][1] .

ژباړه :هغه هلک چه کله د هغه سره د منډو تړړو سن ته ورسيد ،نو ابراهيم عليه سلام هغه ته وويل زويه ! زه په خوب کی وينم چه ستا ذبح کوم ،اوس ته ووايه چه ستا څه نظر دی ،هغه وويل پلار جانه ! د هغه څه چه ستا ته حکم کيږی ترسره کړه ته به ان شآء الله ما له صابرانو څخه ومومی .

ابراهيم عليه السلام د الله (جل جلا له) د حکم له مخې خپل ماشوم زوی د ذبحې کولو لپاره د ځان سره روان کړ ، رټل شوي شيطان کوښښ کولو چې اسماعيل عليه سلام او د هغه مور پښيمانه کړي خو شيطان په دې ونه توانيده دوی دواړه د الله (جل جلا له) د حکم پر ځای کولو په لوري د

[1] - سوره الصافات :۱۰۲.

منا صحرا ته روان شول او شیطان یې ورتلو چې اوس په همغه ځای باندې ځلی جوړ دي او حجاج

یې جمرې کوي .

دا د شیطان پر وړاندې د ابراهیم علیه السلام ، بې بې هاجرې او اسماعیل علیه السلام د مبارزې

لوی عبرتناک درس دی چې د قیامت تر ورځې به یې یادګار ژوندی وي .

۵- په حج کې دا پر ډاکه څرګندیږي چې مسلمانان د یو بدن حیثیت لري په میلیونو کسان د

اسلامي شریعت د حکم پر بنسټ یو شان مناسک ادا کوي او د یو امام په اقتدا لمونځ کوي چې د

تور ، سپین ، مالدار او غریب ، قوي او ضعیف ، اقتدار واله او بې اقتداره تر مینځ هیڅ فرق نشته

او ټولو یو شان جامې اغوستې وي او یو شان مناسک ادا کوي .

د حج ادا کول د کفر او شرک پر وړاندې د ابراهیم علیه السلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم

او د هغه د صحابه د مبارزې یادګار دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو د دین

په رسولو کې څومره تکلیفونه ګاللي دي او د دوی د تکلیف ګاللو په وجه دغه د اسلام ستر نعمت تر

مونږ پورې را رسیدلې دی ، هلته مسلمان له خپل پروردګار سره تعهد کوي چې نور به د شیطان

پیروي نه کوم ، د شیطان او اسلام دوښمنو پر وړاندې به جهاد او مبارزه کوم او د دین د نصرت د

پاره به د خپل وس موافق هلې ځلې کوم .

۶- د حج د ادا کولو وروسته حجاج کرام د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دارالهجرت مدینې

منورې ته سفر کوي ، په دې مبارک ښار کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو

مبارکانو قبرونه دي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو په لاسونو باندې جوړ

شوی نبوي جومات دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په اړه فرمايي : «صلاة في مسجدي هذا أفضل من ألف صلاة فيما سواه إلا المسجد الحرام»[1].

يعنې: زما په جومات (مسجد نبوی کې ) لمونځ کول د نورو تمامو جماعتونو د زرو لمونځونه بهتره دی (سوا د مسجد الحرام ) نه .

الله تعالی دې مونږ ته ددې پوره توفيق راکړئ چې په اخلاص سره د حج د اداکولو د پاره حرمين شرفينو ته سفر وکړو.

## د کعبې شريفې لنډه پيژندنه

د مکې مکرمې ښار د ځمکې پر مخ له ټولو ښارونو څخه محترم او غوره ښار دی چې تقريباً د ځمکې په وسط کې قرار لري ، په دغه ښار کې بيت الله شريف په برابر او موازي د [بيت المعمور] کوم چې د آسمان د مخلوق عبادت ځای دی قرار لري (يعنې دواړه بيتې يو د بل په برابر او موازي قرار لري ) .

بيت الله شريف لومړی ځل ملائيکو جوړه کړې ده وروسته بيا حضرت آدم عليه السلام ، حضرت شيث بن آدم عليه السلام ، حضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت اسماعيل عليه السلام او وروسته د قريشو لخوا ورغول شوه چې خپله جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه په رغولو کې برخه اخيستې او د قريشو د مشرانو په ګډون يې د حجر اسود ډبره په خاص ځای کې ځای پر ځای کړې ده .

وروسته بيا په کال د ٦٥ هجري د حضرت عبدالله بن زبير او بيا د سلطان مراد عثماني او په کال د ١٤١٧ هجري د ملک فهد لخوا رغول شوې ده .

بيت الله مربع شکله ده چې ابعاد يې په لاندې ډول دي :

- طول يې د ملتزم لخوا ١٢,٨٤ متره

[1] – رواه الطبراني و صحيح ابن حبان .

- طول يې د حطيم لخوا ۱۱,۲۸ متره
- طول يې د ركن يماني او حطيم تر مينځ ۱۲,۱۱ متره
- د ركنينو تر مينځ ۱۲,۵۲ متره
- د حجر اسود لوړوالی ۱,۱ متره
- د كعبې د دروازې لوړوالی ۳،۱ او عرض يې ۱،۹ متره دی .

**حجر اسود :**

حجره اسود هغه ډبره ده چې له جنت څخه راوړل شوې ده ، جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي :[ نزلَ الحجرُ الأسودُ من الجنَّةِ وهو أشدُّ بياضاً من اللَّبنِ فسودتهُ خطايا بني آدم][1]

ژباړه: حجر اسود چې كله له جنت څخه راوړل شوه رنګ يې له شيدو څخه سپين ؤ وروسته د بنی آدمو د ګناهونو په وجه توره شوه .

د دغه ډبرې طول ۲۵ سانتې او عرض يې ۱۷ ساتنې دي چې د سپينو زرو په يوه حلقه كې قرار لري .

**مسجد الحرام :**

د كعبې شرېفې چاپيره ساحه ،مطاف ( د كعبې چاپيره پراخه ساحه چې طواف پكې ادا كيږي ) او د هغه چاپيره د لمانځه ځايونو ته [مسجدالحرام] وايي .

جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «صَلاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَفْضَلُ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ صَلاةٍ فِيمَا سِوَاهُ »[2]

[1] – رواه الترمذي : ۸۷۷ .
[2] – رواه أحمد :۱۴۲۸۴و ابن ماجه: ۱۴۰۶ .

ژباړه : په مسجدالحرام کې یو لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله د یو لکو لمونځونو اجر لري (یعنې تقریباً د ۵۵ کلونو د لمونځونو اجر لري ) .

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : «مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ، لا يَضَعُ قَدَمًا وَلا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلا حَطَّ اللَّهُ عَنْهُ خَطِيئَةً وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً»[١] .

ژباړه : څوک چې له کعبې څخه اوه دورې طواف وکړي ، دا طواف دومره اجر لري لکه یو غلام ( یې چې د الله په لاره کې ) آزاد کړی وي ، د قدم له اخیستلو او پورته کولو وړاندې به الله تعالی دی له ګناهونو څخه پاک کړي او د ده د پاره به یو نیکي و لیکي .

**د تاریخ په اوږدو کې د مسجد الحرام پراخوالی :**

مسجد الحرام د اسلام په تاریخ کې څو ځله د خلفاء راشدینو او اسلامي حاکمانو لخوا پراخه شوی دی چې په لاندې توګه بیانیږي :

١- حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه ٦٣٨ م

٢- حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه ٦٤٨ م

٣- حضرت عبدالله بن زبیر رضی الله عنه ٦٨٥ م

۴- ولید بن عبدالملک ٦٣٨ م

۵- ابو جعفر منصور عباسی ٦٣٨ م

۶- محمد مهدي عباسي ٦٣٨ م

٧- معتضد بالله عباسي ٦٣٨ م

٨- مقتدر عباسي ٦٣٨ م

٩- ملک عبدالعزیز ١٩٥٥م


---


[١] – رواه الترمذي :٩٥٩ .

۱۰- ملک فهد بن عبدالعزيز ۱۹۸۸ م

دا جومات (۹۵) دروازې او (۹) منارې لري چې د هرې منارې لوړوالی يې (۸۹) متره ته رسيږي.

**د مسجد الحرام نقشه**






## د حج د سفر څخه مخکې آداب

کله چې حاجې د حج د سفر اراده وکړې باید لاندې اعمال تر سره کړې :

١- باید له ټولو ګناهونو څخه توبه وباسې او الله تعالی ته په اخلاص رجوع وکړې .

٢- اخلاص : د حج د ادا کولو څخه مقصد او نیت باید د حج د فریضې ادا کول او د الله تعالی رضایت حاصلول وي ، نه شهرت ، تفاخر او نه هم د نوم ګټل چې خلک ورته حاجي او الحاج ووایي بلکې نیت به یې یوازې د الله (جل جلا له) رضا وي .ځکه د انسان ټول اعمال په نیت پورې اړه لرې د هر شی نیت یې چې کړی وي هغه به ورسیږي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «انما الاعمال بالنيات».

یعني: د عمل قبلیدل په نیت پورې تعلق لري .

۳- د مور او پلار رضایت حاصلول او د هغوی څخه بخښنه غوښتل او که د خپلوانو سره یې قطع صله رحمې کړې وي د هغوی د خپلولۍ ټینګول ، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«لا یدخل الجنة قاطع رحم »[۱] ( جنت ته د صله رحمې قطع کوونکی نه داخلیږي ) .

او خپلو ګاونډیانو سره ښه سلوک کول ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

« لا یدخل الجنة من لا یأمن جاره بوائقه »[۲]

ژباړه: جنت ته به داخل نشي هغه کس کوم د ده د ضرر څخه د ده ګاوندی په امن نه وي .

۴- که د چا پوروړی وي د هغه پور به ادا کړي او که د چا امانت ور سره وي هغه به یې خپل مالک ته وسپاري او که د پور او امانت د ادا کولو امکان نه وي د هغوی څخه دې حج ته د تللو اجازه واخلي .

۵- د حج د مصارفو د پاره باید پاک مال جمع شي ، چې د رشوت ، سود ، قمار ، په خیانت ، درواغو او فریب ګټلې مال ، د عصب مال او نور حرام مال نه وي ځکه الله (جل جلا له) پاک دی او یوازې پاک مال قبلوي .

او همدارنګه د حج څخه مخکې دې خپل وصیت ولیکي او په هغه باندې دې یو کس شاهد وګرځوي.

۶- د ځان د پاره دې دینداره ملګري غوره کړي تر څو په نیکو کارونو او د حج په مناسکو کې ورسره مرسته وکړي او د سفر مشر دې و ټاکي .

---

[۱] – حدیث متفق علیه .

[۲] – رواه مسلم .

۷- د فقیرانو او مسکینانو حالت ته توجه کول په کار دي تر ټولو مهمه دا چې که زکات یې نه وي ادا کړی یا د زکات څه اندازه پاتې وي د حج څخه مخکې دې زکات ادا کړي ځکه زکات د اسلام ستر رکن دی د زکات په نه ادا کولو او یا د هغه په ځنډولو د هغه عبادت ته تاوان رسیږي .

۸- ځنې کسان د حج څخه مخکې یا وروسته لویې مېلمانۍ برابروي چې د حاجي د کورنۍ او خصوصاً د اولاد داره ښځو د پاره تکلیف دی ، په هغه عبادت کې چې د هغه په ادا کولو سره نورو ته ضرر او تکلیف رسیږي د عبادت ثواب له مینځه ځي .

۹- تواضع : کله چې حاجي د حج څخه خپل کور ته راشي د هغه د پاره تواضع او عاجزي په کار ده ، خپل ځان به خلکو ته لوی او ډیر پرهیزګاره نه ښکاره کوي ځکه عبادت د بنده او د الله تعالی تر مینځ یو راز دی .

۱۰ – د حج د سفر پر مهال به خپله ژبه د الله (جل جلا له) په ذکر او یاد مشغوله ساتي ، د بې ځایه خبرو ، جنګ او جنجال ، بل ته ضرر رسولو به ځان کلک ساتي .

**د سفر د توښې او مصارفو بر ابرول :**

د حج د سفر د پار باید ښه توښه برابر شي ځکه د حج د سفر ټول مصارف فی سبیل الله دي د هغو ثواب یو په اووه سوه بلکې لا زیات دی خو د فضول خرچۍ څخه به ځان وساتئ ، څوک چې توان لري هغه لره په کار ده چې ښه توښه برابره کړي او چا سره چې خرچ کم وي هغه لره احتیاط په کار دی .

د سفر د پاره د اړتیا وړ شیان در سره واخلئ لکه : د سامان د ساتلو بکس ، د حج د احکامو کتاب ، یو جوړه یا دوه جوړه د احرام جامې ، د حج څپلۍ ، کمربند یا همیانې ، یوه جوړه بوټونه ، دری

جوړې د اغوستلو کالي ، دوې دانې زیرپېراهنۍ ، دوې دانې خولۍ ، یو پټو ، د تشناب قاغذ ، مسواک ، د ځان مینځلو صابون او شامپو ، ګیلاس ، قاب ، کاچوغه ، ترموز او برقي ابجوشي .

که هم هلته هر شی شته خو هلته چې سړی نوي ورسیږي نابلده وي .

د خویندو د پاره پر ویښتانو باندې د اچولو دوه دسمالونه ، یو لوی پوړنۍ یا څادر ، چادري یا حجاب ، ستن او تار ، ږمونځ ، هینداره او نور ضروري سامان به له ځانه سره واخلي .

**د کور څخه د وتلو آداب :**

حاجي به له خپلې کورنۍ ، دوستانو ، عزیزانو ، ګاونډیانو او نورو څخه د رخصتیدو پر مهال معافي او دعا و غواړي او خدای په آماني به ورسره وکړي .

د خدای په آمانی په مهال به دا دعا کوي :

«أَسْتَوْدِعُ اللهَ دِيْنَكَ، وَأَمَانَتَكَ، وَخَوَاتِيْمَ عَمَلِكَ»[1].

ژباړه:ستا دین ، ستا امانت او ستا د عمل خاتمه پر الله جل جلا له سپارم .

او یا داسې ویل : «أَسْتَوْدِعُكُمُ اللهَ الَّذِيْ لاَ تَضِيْعُ وَدَائِعُهُ» [2].

(تا پر الله تعالی سپارم هغه الله (جل جلا له) چې هغه ته کله څه وسپارل شي نو هغه نه ضایع کوي)

د کور څخه د وتلو پر مهال به دا دعا ووایي : «بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللهِ»[3].

ژباړه: د الله په نوم په الله پاک توکل کوم او د الله پاک پرته د رجوع ځای او قوت نشته.

**د الوتکې آداب :**

هر کله چې حاجي په الوتکه کې سپریږي هغه لره د لاندې ټکو مراعاتول په کار دي .

[1] – رواه الترمذي و مسند امام احمد.
[2] – زواه مسند احمد و ابن ماجه.
[3] – رواه ابوداود .

۱- الوتکې ته د ختلو پر مهال به دا دعا وکړي : «اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ، اللهُ أَكْبَرُ ﴿سُبْحانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ * وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنقَلِبُونَ] [۱] .

۲- په الوتکه کې به د الله تعالی ذکر او یاد کوي له بې ځایه مناقشو ، بې هوده خبرو ، تیله کولو او نور ته ضرر رسولو ځان ساتي .

۳- د ټولو حاجتمندو سره به مرسته او مدد کوي .

۴- په الوتکه کې به تلبیه ، استغفار او نور اذکار کوي ، که غواړي خبرې وکړي باید د ضرورت څخه علاوه خبرې ونه کړي ، او که د ده سره څوک خبرې کوي نو د حج د احکامو په باره کې به خبرې وکړي .

۴- د الوتکې د سفر پر مهال د لمانځه وخت ته ډير پام کوه داسې نه چې په يو فرض ادا کولو پسې روان وې او بل تر هغه محکم فرض در څخه پاتې شي ، که الوتکه څه وروسته پر ځمکه کيني نو لمونځ و ځنډوئ او که د وخت د تلو ویره وي نو د قبلې لورې پیدا کړئ او په الوتکه کې و درېږئ لمونځ وکړئ که درېدل ناممکن وي په ناسته سره لمونځ وکړئ .

د سفر نیت چې د پنځلسو ورځو کم وي مسافرانه لمونځ به کوئ ، که فرضاً کله په مقيم امام پسې اقتدا وکړئ ، د امام په متابعت به لمونځ پوره کوئ .

۵- توجه کوه چې څه وخت میقات ته رسیږې تر څو میقات ته د رسیدو مخکې احرام وتړې .

۶- د جنجالي امورو څخه دې خپله ژبه وساته .

**مکې ته د ننوتلو آداب :**

کله چې مکې مکرمې ته داخلیږئ د خپلې خوښې دعا به وکړي مکې د داخلیدو پر مهال کومه خاصه مسنونه دعا په صحیح روایت سره نه ده ثابته شوې .

[۱] – رواه مسلم .

وروسته چې کله په خپلو اتاقونو کې ځای پر ځای شوئ او د عمرې د ادا کولو قصد مو وکړ کوښښ وکړئ د يو معلم يا کوم بلد سړي سره ملګري شئ ( ځکه دا مو لومړی ځل دی ) مسجد الحرام ته به د باب السلام (باب بنی شيبه ) له لارې داخل شئ ځکه چې جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم له همدې دروازې مسجدالحرام ته داخليدو . د داخلېدو په وخت کې به لومړی ښی پښه مخکې کړې او دا دعا به ولولئ : « اللهم افتح لي أبواب رحمتك»

او يا هم دا دعا ويل : «اللهم صل على محمد وسلم ، اللهم افتح لي أبواب رحمتك»

او يا هم دا دعا ويل : «أعوذ بالله العظيم وبوجهه الكريم وسلطانه القديم من الشيطان الرجيم»

کله چې مسجدالحرام ته داخل شئ او په بيت الله شريف مو سترګې ولګيږي په اخلاص او عاجزی سره به دعا وکړئ ځکه چې د کعبې شريفې د ليدلو پر مهال دعا قبليږي .

## د حرمينو شريفينو مېلمنو ته څو وصيتونه

الحمدلله چې الله سبحانه وتعالی تاسې ته د دغه مبارک سفر توفيق درکړ ، دا سفر په ټول ژوند کې ډير مهم ، د محبت او ايماني ولولو څخه ډک ، د امن او سکون ، د نړيوالی اسلامي ورورولی ، د دنيا د مشغوليتونو څخه الله تعالی ته د رجوع کولو تر ټولو مبارک سفر دی ، نو تاسې دغه سفر ډير مهم او د الله تعالی له لوری لوی انعام وګڼئ او د ښو اعمالو د تر سره کولو لپاره يې په ژوند لوی غنيمت او چانس وګڼئ .

دا چې بيا وروسته افسوس و نه کړئ زه مو څو مهمو ټکو ته متوجه کوم او تاسې ته پر دغو ټکو وصيت کوم :

١- مسلمانه وروره او مسلمانې خورئ ! نيت مو خالص د الله تعالی رضا وګرځوئ ، له خپل رب (جل جلاله) سره مو داسې راز وکړئ چې ای زما ربه ! نور مې خپل اهل عيال پرېښود او ستا د لارې

مسافر شوم په دې نیت چې ستا د فرضي حج حکم پر ځای کړم ، له ګناهونو څخه پاک شم او د دنیا او آخرت نیکمرغي مې په نصیب شي .

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«الْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُ اللهِ. إِنْ دَعَوْهُ أَجَابَهُمْ، وَإِنِ اسْتَغْفَرُوهُ غَفَرَ لَهُمْ»[1] .

یعنې : حاجیان او عمره کوونکي د الله تعالی مېلمانه دي که هغوی الله تعالی ته دُعا وکړي هغه یې قبلیوي (ځکه چې د میلمه خواهش ضرور پوره کیږي ) او که هغوی د الله تعالی څخه عفوه وغواړي هغه بخښل کیږي .

۲- ورونو او خویندو ! پر تاسې د حج د احکامو علم فرض دی ، د حج د احکام کتاب په غور ولولئ ځان ښه ورباندې پوه کړئ که په کوم ځای نه پوهېږئ له بل چا څخه پوښتنه وکړئ ، که د کتاب څخه اخذ نشی کولای نو د یو عالم سره سرې ملکرتیا وکړئ .

الله تعالی چې چا ته د خیر اراده وکړي نو هغه ته په دین کې پوهه ورکوي لکه په حدیث شریف کې چې راغلي دي :«من یردِ الله به خیراً یُفقهه في الدِّین» .

۳- پام کوئ چې د جماعت لمونځ در څخه فوت نشي ، د سهار د لمانځه د اذان څخه مخکې ځان حرم شریف ته رسوئ ځکه دغه وخت ګڼه ګونه نه وي هلته د سهار د آذان تر وخته پورې د تهجد لمونځ ادا کړئ .

په حرم شریف کې یو لمونځ د یو لکو لمونځونو ثواب لري .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :«صَلاةٌ فِي الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَفْضَلُ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ صَلاةٍ فِيمَا سِوَاهُ »[2] .

---

[1] – رواه ابن الماجه .

[2] – رواه أحمد و ابن الماجه .

ژباړه : په مسجدالحرام کې یو لمونځ د نورو جوماتونو په پرتله د یو لکو لمونځونو اجر لري (یعنې تقریباً د ٥٥ کلونو د لمونځونو اجر لري ) .

پام کوئ چې دغه لوی اجر له لاسه ور نه کړئ ، هلته مې ځنې داسې کسان ولیدل چې دوی به پخپلو اتاقونه کې پراته وو او لمونځ به یې په جماعت نه کولو او دغه څو شمیرلې ورځې به یې په غفلت کې تیرولې .

۴- په مسجد الحرام کې څومره مو چې له وسه کیږي د قرآنکریم ډیر تلاوت کوئ ځکه دا د وحې او د قرآن د نزول ځان دی دلته د قرآن تلاوت خاص اثر لري .

ما به هلته د هغو کسانو پر حال تعجب کولو چې قرآن به یې تلاوت کولو خو ژړل به یې نه ، قرآن به یې تلاوت کولو خو اوښکې به یې نه تویدلې هلته مې چې د قرآن د تلاوت کوم اثر حس کړ بیا مې چیرې هم نه دی حس کړی .

ځنې علماء کرام په دې نظر دي چې په حرم شریف کې د هری نیکی بدله په یو لکو ورکول کیږي ، چا چې د قرآنکریم یو ختم وکړ داسې ثواب لري لکه یو لک ختمونه یې چې کړي وي .

ځکه په حدیث شریف راغلي : «بکل حسنة مائة ألف حسنة»[١] .

یعنې : په حرم شریف کې په هره نیکی باندې د یو لکو اجر ورکول کیږي .

که څه هم ددې حدیث په اسنادو کې د محدثینو څه خبرې شته خو حاکم صحیح اسناد بللی دی .

۵- په اتاق کې د خپلو ملګرو سره ښه سلوک کوه د هغوی احترام ساته ځکه هغوی د رحمن خدای مېلمانه دي .

د غیبت ، بهتان ، د نورو د سپکاوي او نورو ته د ضرر رسولو څخه ځان ساته او په دې پوه شه چې که په حرم شریف کې هر ښه کار لوی ثواب لري همداسې بد کار او ګناه هم د عدد له مخې نه بلکې

١ – رواه الحاکم او بیهقي.

د کیفیت له مخې لوی جرم بلل کیږي . لقول الله تعالی :[وَمَن يُرِدْ فِيهِ بِإِلْحَادٍ بِظُلْمٍ نُذِقْهُ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ] .

ژباړه:

۶- مسلمانې خویندې به یوازې د احرام پر مهال خپل مخ لوڅوي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړی دی چې : «ینهی النساء فی احرامهن عن القفازین والنقاب »

یعنې: رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ښځو ته حکم کوي چه په احرام کې مخ مه پټوي او دستان (دسکش) له لاسونو لرې کړئ .

نور به د خپل اسلامي حجاب پوره رعایت کوي .

۷- تر خپله وسه پورې نفلي عمرې او طواف کوئ خو دومره زیات هم نه چې له پښو ولویږئ او یا ناروغه شئ هر څه د خپل وس موافق تر سره کوئ کم عمل او ډیر اخلاص په نظر کې نیسئ .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : «مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ، لا يَضَعُ قَدَمًا وَلا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلا حَطَّ اللَّهُ عَنْهُ خَطِيئَةً وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً»[١] .

ژباړه : څوک چې له کعبې څخه اوه دورې طواف وکړي ، دا طواف دومره اجر لري لکه یو غلام ( یې چې د الله په لاره کې ) آزاد کړی وي ، د قدم له اخیستلو او پورته وړاندې به الله تعالی دی له گناهونو څخه پاک کړي او د ده د پاره به یو نیکي و لیکي .

د بیت الله څخه طواف ستر عبادت دی نو د طواف پر مهال به د زړه حضور د الله طرف ته متوجه کوئ ، نورو ته د ضرر رسولو څخه به ځان ساتئ .

۸- د حج پر مهال او یا په مکه ، مسجد الحرام او مدینه منوره کې به فلم برداري او تصویرونه نه اخلئ ځکه چې د ساه لرونکو تصویر اخیستل سخته گناه لري .

[١] – رواه الترمذي .

عبدالله ابن مسعود وايي : له پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه مې واروېدل چې فرمايل يې:

«إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُصَوِّرُونَ»[1] .

ژباړه : د قیامت په ورځ له خلکو څخه سختړين عذاب د تصوير جوړونکو دی .

۹- د ځنو هيوادونو ښځې صحي اسلامي حجاب نه مراعاتوي د هغوی څخه به مو خپل نظر ساتئ ،

او همدارنګه مسلمانې ښځې به د سړيو څخه خپل نظر ساتي ځکه چې دا د الله تعالی حکم دی .

[قُلْ لِلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ] (او مؤمنانو ته ووايه چې : خپلې سترګې ټيټې ( د نا محرمو څخه خپل نظر وساتي )

[وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ] .

ژباړه :او مؤمنانو ښځو ته ووايه چې : خپلې سترګې ټيټې ( د نا محرمو څخه خپل نظر وساتي )

۱۰- کله مو چې حج پیل شو د حج د مناسکو ادا کولو ته ډېره توجه کوه ، په منا کې به خپل وخت

په ديني مطالعه ، د قرآن تلاوت او اذکارو تيروه ، هلته مې ډير ليدل چې خپل وخت به يې په عبثو

خبرو او مجلسونو تيرولو .

ګرانو ! د عرفات صحرا د توبې ژړا او دعا ځای دی .

په عرفات کې د ټول عمر ګناهونه او خطاوې په خيال کې راولئ په هغه باندې وژاړئ او د الله تعالی

څخه يې معافي وغواړئ . د ځان اولاد ، خپلوانو ، ولس او اسلامي امت لپاره د خير او عافيت دعا

وکړئ .

او په دې دعا باندې ډير تأقيد کوئ چې ای الله ! ما ته او زما اهل عيال ته هدايت وکړي او خاتمه مو

په ايمان کړي .

په آخر کې دا وصيت کوم چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ تر څو پر داسې رحم وشي .

[1] – حديث متفق عليه .

وأخيراً نوصي بالالتزام بالكتاب والسنة (وأطيعوا الله والرسول لعلكم تُرحمُون)

## دريم فصل

### د حج ميقاتونه

ميقاتونه ټاکلي وخت او ټاکلي ځای ته وايي د حج ميقاتونه دوه ډوله دي زماني ميقات او مکاني ميقات .

**زماني ميقات :** د حج زماني ميقات يا هغه وخت چې حج پکې ادا کيږي دا درى مياشتې دي شوال ، ذوالقعده او د ذوالحجې لس ورځې .

او عمره د کال په هر وخت کې کول جايز دي مکر د احنافو په نزد د عرفات ، اختر او د اختر وروسته درى ورځي چې د تشريق ورځې بلل کيږي عمره کول مکروه تحريمي دي .

اتفق العلماء على أن العمرة تجوز في أي وقت من أوقات السنة ،يكره فعل العمرة كراهة تحريم عند الحنفية في يوم عرفة (الوقفة) ويوم النحر (العيد) وأيام التشريق الثلاثة عقب العيد؛ لأنها أيام الحج، فكانت متعينة له[1].

**مکاني ميقات** : ميقات په لغت کې حد او ټاکلې پولې ته وايي او په اصطلاح کې هغه ځای دی چې د هغه ځخه د احرام تړل واجب دي او په درى ډوله دی :

**١- د آفاقيانو ميقات :** د هغو خلکو ميقات چې د ميقات له ځايونو څخه بهر اوسيږي .

**٢- د حل د استوګنو ميقات :** يعنې د هغو خلکو ميقات چې له حرم څخه د باندې او په ميقات کې د ننه وي .

**٣- د حرم د اوسيدونکو ميقات :** يعنې د مکې د اوسيدونکو ميقات هغه خلک چې د حرم په داخل کې اوسيږي .

[1] – فقه الاسلامي و ادلته / دوکتور وهبة الزحيلي رحمه الله .

**د آفاقیانو میقاتونه دا دی :**

۱- یَلملَم : د اهل یمن او هغو خلکو میقات دی چې په دغه لاره راځي لکه: افغانستان ، هند او پاکستان د دغه میقات اوسنی نوم «السعدية» دی چې له مکې مکرمې څخه ۹۰ کیلومتره لرې واقع دی .

۲- ذوالحُلفه : د هغو خلکو میقات دی چې د مدینې منورې لخوا څخه راځي، ذوالحلفه د یوې کوچنۍ سیمې نوم دی چې له مکې مکرمې څخه ۴۱۰ کیلو متره لرې واقع دی .

۳- الجُحفَه : د هغو خلکو میقات دی چې د مصر ، شام او نورو طرفونو څخه راځي ، جحفه هم د یوه کلي نوم دی چې اوس مهال هلته یو جومات جوړ شوی دی چې جاجیان له هغه نه احرام تړي دغه میقات د مکې څخه تقریباً ۲۰۰ کلیو متره لرې دی.

۴- قرن المنازل : د هغو خلکو میقات دی چې د نجد پر لار راځي دغه میقات ته نجد قرن هم وایي چې اوس مهال هلته یو جومات جوړ شوی دی چې حاجیان احرام ورڅخه تړي د مکې څخه ۷۰ کیلو متره لرې دی.

۵- ذات عرق : د هغو خلکو میقات دی چې د عراق لخوا څخه راځي .

مخکې مو وویل چې خلک د میقات له مخکې درې قسمه دي :

اول قسم : آفاقي ټول هغه خلک چې د میقاتو څخه بهر اوسیږي آفاقي بلل کیږي چې پر هغوی باندې واجبه ده چې مکې ته د حج او عمرې په نیت ننوتلو پر مهال له خپل میقات څخه احرام وتړي .

دوهم قسم : میقاتي هغه خلک چې د حرم څخه د باندې د میقاتو په حدودو کې د ننه وي هغوی د خپلو ځایونو څخه احرام تړي پر هغوی باندې میقات ته تلل نشته بلکې په کوم ځای کې چې اوسیږي د هغه ځای څخه به میقات تړي .

دریم قسم : اهل حرم : هغه خلک چې د حرم په داخل کې اوسیږي هغوی به د حج لپاره احرام له خپل استوګن ځای څخه تړي او د عمرې لپاره احرام به د کوم لنډ حل لکه : تنعیم ، جعرانه ... څخه تړي .

د احنافو په نزد د عمري کوونکو لپاره غوره او افضل التنعیم دی مګر ځینې علماء وايي د لنډ «الحل» څخه احرام تړل افضل دی .د مکې د اوسېدونکو لپاره تنغیم لنډ دی او که د جدې له خوا راځې هغه ته جعرانه افضل دی .

## اصطلاحات

د یو حاجی د پاره لازم دی چې په لاندې ذکر شوؤ اصطلاحاتو باندې ځان پوهه کړی .

**ایام تشریق**: ایام تشریق هغو ورځو ته وايي په کومو ورځو کښې چې تکبیر لوست کیږي، یعنې د ۹ ذوالحجې د سهار نه تر ۱۳ د ذوا لحجې تر مازیګره پورې .

**یوم الترویه** :د کومې ورځې نه چې د حج عبادات شروع کیږی چې د ذوالحجې د اتمې ورځ څخه پیل کیږي .

**یوم عرفه** :د عرفې ورځ، په کومه ورځ چې حاجیان صاحبان د عرفات په غونډۍ خېژي یعنې د ذوالحجې نهمه ورځ .

**یوم نهر** :په کومه ورځ چې حاجیان صاحبان قربانۍ کوي دې ته یوم نهر وايي .

**میقات**: د مکه معظمه څلورو غاړو ته په نښه کړي شوي مقامات دي ، د کوم ځای نه چې حاجیان د عمرې یا حج د پاره احرام تړي او د عمرې یا حج نیت کوي .

**حرم** :د مکه معظمې څلورو خواؤ ته تر څه اندازې لرې پورې زمکې ته د حرمت او تقدس په وجه (حرم) ویل کیږي په دغو حدودو باندې نښې لګیدلی دي په دغه علاقه کښې ښکار کول، ونې، بوټي او واښه پریکول منع دي .

**احرام**: د حج یا عمرې د پاره چې کوم مخصوص لباس اغوست کیږي هغې ته احرام وئیل کیږی. دغه لباس عبارت له لنګ او څادر څخه دی چې ګنډل شوی نه وي، ددې اغوستلو سره ځینې حلال څیزونه هم په حاجی باندې حرامیږی ځکه ورته (احرام) ویل کیږي .

**تلبیه**:هغه الفاظ دي چې د حج او عمرې په دوران کښې د احرام په وخت کښې بار بار لوستل کیږي یعنې: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنَّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ

**طواف**: د الله تعالی د کور ( کعبه) نه اووۀ ځلې تاویدلو ته وائی، یو ځل تاویدلو ته (شوط) وائی کوم ځای کې چې طواف کیږی هغې ته (مطاف) وایي .

**شوط** : د طواف یو ګردش ته چې د حجر اسود څخه پیل او بیرته به حجر اسود ختم شي شوط وایي .

**سعی** : د صفا او مروه د غرونو په مینځ تګ راتګ ته وایي .

**رمی** : د شیطانانو ویشتلو ته وایي .

**هدی** : هغه څاروي کوم چې د قربانۍ د پاره انتخاب شوی او وقف شوی وي .

**قصریا حلق** : د ویښتانو کټ کولو او یا خرئیلو ته وایي .

**استلام** : د حجرة اسود مچي کول یا مسحه کول .

**اضطباع** : د احرام د چادر څخه د ښي لاس ایستل او د احرام څادر په چپه اوږه اچول .

**حجر اسود** : هغه ډبره ده چې د کعبې شریفې جنوب شرق طرف ته د کعبې د دروازې چپ طرف ګنج کې موقعیت لري .

**حطیم** : د کعبې شریفې یوه برخه ده چې په یو ټیت دیوال سره احاطه شوی ده .

**رفث** : د حج په ورځو کې نا روا کار او ناوړه یا د شهوت خبرو ته رفث وایي .

**رمل** : تیز تګ کول چې اوږې ورسره ښورول کیږي .

**مقام ابراهیم :** د کعبې شریفې د جوړولو په وخت کې یو ډبره وه چې ابراهیم علیه السلام په هغه باندې درېدلو .

**ملتزم :** د کعبې د دوازې او حجر اسود تر مینځ ځای دی چې دلته حجاج دعا کوي .

**میلین اخضرین :** د صفا او مروه په مینځ کې چراغونه دي چې ددې چراغونو په مینځ تیز تګ کیږي .

**وقوف :** د عرفات په غره باندې د حاجیانو حاضرېدو ته وقوف وایي .

دا وو هغه مشهور اصطلاحات کوم چې د یو حاجی یا عمره کوونکی د پاره لازم دي .

**ځینې اسلامي اثار:**

۱- أحد : مدینې منورې ته لنډ غر دی چې هلته د احد غزا شوي ده .
۲- بدر : مدینې منورې ته لنډ یو ګنډو دی چې هلته د اسلام لومړی غزا چې د بدر په نوم یادیږي مینځ راغلي ده .
۳- بئر عثمان : مدینې منورې ته نږدې پخوانی کوهی دی چې عثمان رضی الله وقف کړی وو .
۴- جبل مکبر : په منی کې یو غر دی .
۵- جبل ثور : دا هغه غر دی چې په دغه غره کې یو غار وو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د هجرت په وخت کې په هغه کې دری شپې تېرې کړې وې .
۶- جبل رحمه : د عرفات په دښته کې یو غر دی چې د هغه په لمن کې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع خطبه لوستې ده .
۷- جبل قزح : په مزدلفه کې یو غر دی .
۸- جنت بقیع : د مدینې منورې لویه هدیره ده چې ډیر صحابه کرام پکې دفن شوي دي .
۹- جنت معلی : په مکه مکرمه کې یو هریره چې بی بی خدیجه او نور صحابه کرام پکې دفن شوي دي .
۱۰- حراء : مکې ته لنډ غار دی چې هلته په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې وحی نازله شوی .
۱۱- محسر : مزدلفې ته لنډ ځای دی چې په اصحاب فیل باندې عذاب نازل شوی دی .

## د حج قسمونه

حج په درې قسمه دی،قِران ، افراد او تمتع چې دا فرق د احرام تړلو په وخت کې په نیت کولو سره کیږي ددی وجې د احرام ډولونه هم بلل کیږي .

**۱- قران :**

د حج هغې طریقي ته وایي چې حاجې په یو ځل د عمرې او حج دواړو د پاره احرام وتړي قران معنی ده یو ځای کول ځکه د حج په دغه طریقه کې عمره او حج سره یو ځای کیږي .

**۲- افراد :**


یواځې د حج د پاره احرام تړلو ته افراد وایي اواحرام تړلو واله ته مفرد وایي .

**۳- تمتع :**

د حج هغه طریقي ته وایي چې د حج په زمانه کې لومړی احرام وتړي عمره وکړي او بیا احرام مات کړي او بیا یې د حج د فرایضو د ادا کولو د پاره دوهم ځل احرام وتړي او حج وکړي.

یعنی حج تمتع دا دی چې حاجی حج اوعمره خوا په خوا سره وکړي لیکن په داسې شکل چې د هر یو د پاره جلا جلا احرام وتړي او له عمرې کولو وروسته احرام مات کړي او بیا د حج د ادا کولو د پاره احرام وتړي .

تمتع معنی ده ګټه پورته کول د عمرې او حج تر منځ موده کې حاجي احرام په ماتولو سره د حلالو ځیزونو څخه ګټه اخلې کوم چې هغه د احرام په موده کې منع ؤ په همدې وجه ورته تمتع وایي .




افغان حجاج اکثراً تمتع حج ادا کوي هغه حاجیان چې په اولو ورځو کې سفر کوي عموماً لومړی مدینې منورې ته نقلیږي هلته ۸ ورځې تیروي او وروسته مکې ته روانیږي د میقات ځخه احرام تړي عمره ادا کوي او وروسته احرام ماتوي .

او هغه حاجیان چې وروسته سفر کوي هغوی مسقیماً مکې ته نقلیږي ، هغوی به په میدان هوایي یا لاره کې د میقات رسیدو مخکې د عمرې احرام و تړي کله چې په مکه شریفه کې پخپلو عمارو (ساختمانونو ) کې پخپلو اتاقونو کې ځای پر ځای شول وروسته به عمره ادا کړي .

## د عمرې مفصل بیان

**د عمرې اعمال او کارونه عبارت دي له :**

۱- احرام

۲- طواف

۳- د صفا او مروه تر مینځ سعې

۴- د سر خریل یا د ویښتانو لنډول .

**د عمري د ادا کولو لنډه نقشه**

**د احرام تړل**

↓

[د احرام لپاره غسل او یا اودس کول ، خوشبوهي وهل سنت دي ، یو ځل د نارینه لپاره په زوره او ښځو لپاره په ورو تلبیه ویل واجب او درې ځله سنت دي ، بیا به د احرام دوه رکعته نفل وکړي او د عمرې نیت به وکړي، د احرام تړلو د وخت او ځای په اړه به تاسې ته د سفر مشر او یا د معلم لخوا معلومات درکړ شي ]

**د طواف کول**

↓

[ د طواف نیت کول ، د حجر اسود استلام کول او په اوداسه سره طواف له حجر اسود څخه پیل کول اووه ګردشه پوره کول ، په لومړی څلورو ګردشونو کې اضطباع او رمل کول ، د طواف وروسته به په ملتزم دعا کول بیا به په مقام ابراهیم کې دوه رکعته لمونځ کول او وروسته د زم زم د ابو څښل]

**د صفا او مروه سعی**

↓

[صفا ته دومره پورته کیدل چې کعبه شریفه ولیدل شي ، دعا کول او سعی د صفا څخه پیل په مروه ختمول چې یو ګشت کیږي همداسې اوه ګشته پوره کول او په هر ګشت کې د شنو چراغونو په مینځ کې تیز تلل ]

**د سر د ویښتانو خریل او یا لنډول**

↓

[د سعی وروسته د سر د ویښتانو خریل یا د یوې ګوتې په اندازه کمول او د احرام ماتول او په دې سره عمره ختمه شوه]

**۱- احرام :**

احرام په زړه کې د حج یا عمرې نیت کولو د احرام جامې اغوستلو او تلبیه ویلو ته وایي چې د عمري د احرام د پاره د عمرې نیت تړل کیږي .

عمر کوونکی به د احرام په نیت غسل وکړي ، خوشبویي به ووهي ، غسل او خوشبویي وهل سنت دي که د غسل امکان نه وي اودس به وکړي ، وروسته به خپلې ګنډلې جامې لرې او احرام جامه چې عبارت له لنګ او چادر څخه ده واغوندي ، د ښځو د پاره خپلې ګنډلې جامې صحي دي چې زینت و نه لري ، بیا به که مکروه وخت نه وي د احرام په نیت دوه رکعته نفل لمونځ وکړي ، بیا به خپل سر لوڅ کړي د عمرې نیت به داسې وکړي :

«اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ أُرِيْدُ الْعُمْرَةَ فَيَسِّرْهَا لِيْ وَ تَقَبَّلْهَا مِنِّيْ» (ای الله ! زه د عمرې نیت کوم نو ما ته یې آسانه کړې او را څخه قبوله یې کړې ) ، وروسته به په ولاړه قبلې ته مخامخ نارینه په لوړ آواز او ښځینه په کراره درې ځله تلبیه ووایي :«لَبَّيْکَ اللّٰهُمَّ لَبَّيْکَ، لَبَّيْکَ لاَ شَرِيکَ لَکَ لَبَّيْکَ، إِنَّ الْحَمْدَ، وَالنِّعْمَةَ، لَکَ وَالْمُلْکَ، لاَ شَرِيکَ لَکَ » .

ژباړه: زه حاضر یم ای لویه څښتنه ! زه حاضر یم تا لره هیڅ شریک نشته ، یقیناً چې ټول تعریفونه او نعمتونه تا لره دي او پاچاهي تا لره ده ، تا لره هیڅ شریک نشته ) .

تر نیت کولو او تلبیه ویلو وروسته احرام وتړل شو اوس چې کوم شیان احرام کوونکې ته منع دي د هغه څخه به ځان ساتي ( د احرام مکمل تفصیل وروسته را روان دی ) .

**۲- طواف :**

مسجدالحرام ته به ننوځي بیت شریف ته به ځان ورسوي ،بیا به بسم الله ووایی د طواف نیت به په زړه کې وکړي داسې [اَللّٰهُمَّ إِنِّيْ أُرِيْدُ طَوَافَ بَيْتِكَ الْحَرَامَ، فَيَسِّرْهُ لِيْ وتَقَبَّلْهُ مِنِّيْ] ( ای الله ! زه ستا د

بيتی د طواف اراده لرم ، نو يې را ته آسانه کړي او را څخه قبول يې کړې ) .

بيا د حجر الأسود څخه طواف پيل کړې ، داسې چې : حجر الأسود ته به مخامخ ودرېږي که امکان وي هغه به مچ کړې او که امکان نه وي هغه به په لاس سره مسح کړي او که امکان نه وو نو حجرالأسود ته د مخامخ درېدو وروسته به دواړه لاسونو تر غوږونو پورې پورته کړئ لکه د لمانځه په تکبير تحرمه کې وروسته به ووايئ : [بسم الله الله اکبر] يا داسې : [بسم الله الله اکبر و لله الحمد و الصلاة و السلام على رسول الله ] و په ښي طرف چې کعبه يې چپ طرف ته وي طواف پيل کړي ، په دريو دورو يا شوطونو کې به رمل کوي (تيز به ځي ) او که ګڼه ګوڼه زياته وه او د تيز تګ امکان نه وو باک نه لري په کرار به ځي ، کله چې رکن يمانی ته ورسيدې د هغه استلام به وکړئ ، يعنې هغه به په لاس مسح کړئ او که ګڼه ګونه وه همدغسې به ځنې تير شئ .

د حجرالأسود او رکن يماني په مينځ دا دعا ويل کيږي : «رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»[۱] .

کله چې حجرالآسود ته بيا را ورسيږئ د لومړی ځل غوندې استلام به وکړئ ، بسم الله او الله اکبر به ووايئ ، د حجر الأسود څخه بيا تر حجر الأسود پورې را ګرځيدلو ته يو شوط (ګښت يا دوره ) وايي . همدا شان به اووه شوط پوره کړي .

په دې طواف کې د اضطباع ( د ښي لاس لوچولو) مراعاتول سنت دي .

د طواف کولو وروسته به دواړه اوږئ پټې کړئ ملتزم ته به لاړ شئ ، هلته به دعا وکړئ ، دا د دعا د قبليدو ځای دی .

او که اول په مقام ابراهيم کې لمونځ وکړي بيا متلزم ته لاړ شي باک نه لري .

[۱] – ، رواه أحمد في "المسند" (۴۱۱/۳) وصححه ابن حبان (۱۳۴/۹).

مقام ابراهيم : ملتزم د ورتګ وروسته به د مقام ابراهيم تر شا دوه ركعته لمونځ وکړي ، په لمانځه کې خپلې اوږې پټوي ، په لومړي ركعت کې به د [الكافرون] سورت او په دوهم ركعت کې [قل الله] سورت وايي ، كه په مقام ابراهيم کې ګڼه ګوڼه وي په حجر اسماعيل کې به يې ادا کړئ او دلته هم امکان نه وي کعبې شريفې ته نږدې هر ځای چې کولای شئ هلته يې ادا کړئ .

د لمانځه وروسته د خپلې خوښې دعا وکړئ او بيا د زم زم ابو ته لاړ شئ ، دا دعا وکړئ : «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ»[1]

ژباړه:ای الله زه ستا نه ګټور علم نافع ،پراخه رزق او د ټولو امراضو شفاء غواړم .

## ۳- د صفا او مروه تر مينځ سعی كول :

د سعې د پاره د حجرالأسود استلام کول مستحب او مسنون دي بيا به د باب الصفا له لارې ووځئ ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به داسې کول او که د کومې بلې لارې ووځي باک نه لري ، بيا به په زړه کې د سعې نيت وکړي ، صفا ته ختلو پر مهال به وايئ :[ إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِن شَعَآئِرِ اللّهِ]، صفا ته به دومره وخيږئ چې بيت الله و ليدل شي ، بيا به مخامخ بيت الله شريف ته ودريږئ درى ځله به، الله أكبر او دا دعا ووايئ : [لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَه لا شريكَ له، له المُلْك وله الحَمْدُ ، وهو على كلِّ شيءٍ قدير، لا إلهَ إلَّا اللهُ وحدَه ، أنجَزَ وَعْدَه، ونصَرَ عَبْدَه، وهَزَمَ الأحزابَ وَحْدَه][2]

ژباړه : د الله پرته بل برحق معبود نشته او هغه يوازې دی هغه لره هيڅ شريک نشته ، هغه لره پاچاهي او ټولې ثناوې دي او هغه پر هغه څه باندې قادر دی ، نشته لائق عبادت مګر يوازې هغه دی ، الله خپله وعده پوره کړه او د خپل بنده مدد يې وکړ او تنهايي سره يې احزابو او ډلو ته ماتې ورکړه .

[1] – رواه المستدرک الحاکم .

[2] – رواه مسلم :۱۲۱۸ .

دا دعا به درې ځله تکرار کړئ او ددې وروسته نورې د خپلې خوښې دعاوې به وکړئ او بیا چې کله مروی ته کوز شئ همدا دعا « لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَه لا شريكَ له .....» به ولولئ.

دې نه علاوه يې چې څنګه خوښه وي هسې دعا دې وکړي ، بیا د مروه په لورې روان شي ، د صفا او مروه په مینځ کې دوه شنه ځلې یا چراغونه دي چې [ملین احضرین ] بلل کیږي د دغو دوو ځلو تر مینځ به نارینه څه ځټک ځي ، بیا چې کله مروه ته ورسیږي بیت الله شریف ته مخامخ به ودریږئ د صفا په شان ذکر او دعا به وکړئ ، دا له صفا څخه تر مروه پورې یو ګشت شو په هم دې شان به اوه ګشته پوره کړئ .

**۴- د سر خریل یا د ویښتانو کمول (حلق او تقصیر ) :**

د سعې څخه وروسته به عمره کوونکی خپل سر وخریئ او یا به د سر ویښتان لنډ کړي (حلق او تقصیر ) به وکړي او احرام به مات کړي، ښځې به د سر ویښتان جمع کړي یوازې د یوې ګوتې په اندازه به یې لنډ کړي د ښځو د پاره د سر خریل نشته .

په دې سره عمره پای ته ورسیده ، نور په هغه باندې هر څه حلال شول کوم چې د احرام په حالت ورباندې حرام وو ، نور به د حج تر ورځو پورې انتظار کوي او که غواړې نفلي طواف او یا عمره وکړې هغه به ادا کوي .

په عمره کې احرام شرط دی ، طواف کول د عمرې رکن دی ، سعی او د سر خریل یا لنډول واجب دي او کله چې د طواف د لومړي شوط لپاره استلام وکړي نو د تلبه درول سنت دي[۱] .

[۱] – فقه الاسلامي وادلته ، البدائع: 2/226.

## عملي لارښوونې

کولای شئ د سفر د پیل پر مهال له خپل استوګنځی څخه احرام وتړئ او یا د سفر پر مهال چې د سفر د کافلې مسئول به تاسې ته وایي چې احرامونه وتړئ ځکه چې بیا تر میقات تېرېږئ .

کله چې مکې مکرمې ته ورسیدلی او پخپلو اتاقونو کې ځای پر ځای شوی د هغه وروسته به مسجد الحرام ته لاړ شئ.

بیا به کعبه شریفه پیدا کړئ او د کعبې شریفې د دروازې طرفه ته به ځان سم کړې د دروازې چپ طرف ته حجرالاسود موقعیت لري هغې ته ځان برابر کړئ ، د احرام څخه مو ښی لاس لوڅ کړې داسې چې د ښي لاس د تخرګ نه به احرام وباسئ او په چپه اوږه به یې واچوئ ، بیا به استلام وکړې لکه څنګه چې پورته بیان شو، د استلام وروسته به طواف له همدې ځای پیل کړئ کله چې بیرته حجرت اسود ته را ورسیږئ یو ګردش پوره کیږي په همدې توګه به اوه ګردشونه پوره کړئ .

کعبې ته لنډ لږ ګڼه ګوڼه وي چې طواف په ۱۵-۲۰ دقیقو کې خلاصیږي د کعبې څخه لرې چې هلته ګڼه ګوڼه کمه وي د ۳۰-۴۰ دقیقو کې خلاصیږي او په دوهم منزل او بام کې ګڼه ګونه نه وي هلته په ۵۰-۶۰ دقیقو کې خلاصیږي ، غوره والی په اول منزل کعبې ته لنډ طواف کې دی . د طواف پر مهال به هر چا ته نه ګورئ بلکي فقط دعاګانې او ذکر به کوئ او خپل د زړه حضور به برابروئ ځکه چې بیا مو کله مناسک ختم شي آرمان به کوئ چې ولې مو سم ادا نه کړل .

د طواف وروسته به په مقام ابراهیم کې دوه رکعته لمونځ وکړئ د هغه وروسته به د زمزم اوبه وڅښې ( د زمزم د اوبو هرې چیرې نلونه موجود دي) .

د هغه وروسته د صفا غوندی ته لاړ شئ که نابلده وئ له چا څخه پوښتنه وکړئ ، د صفا غونډی ته دومره پورته شئ چې کعبه ووینئ وروسته خپل مخ کعبې ته کړئ دعا وکړئ او له همدئ ځای څخه سعی شروع کړئ د صفا نه تر مروا پورې یو ګردش پوره کیږي اووه ګردشونه به پوره کړئ د شنو

چيراغونو سره به تيز ځئ . د سعي وروسته به د مروا له دروازې ووځئ دلته نږدې سلمانۍ دي هلته خپل سر وخرېئ او نور به احرام لرې کړې عمره مو ختمه شوه .

الله سبحانه وتعالی مونږ ته ډير آسانه شريعت رالېږلی دی وګورئ د عمري ټول مناسک تقريباً په دوو ساعتونو کې ختمېږي نو مهمه دا ده چې په مناسکو کې ښېره ونه شي په کراره ، وقار ، اخلاص او د زړه په حضور تر سره شي .

ددې څخه وروسته که وخت ولرئ نورې نفلي عمرې هم کولای شئ .

**يادونه :** دا عمره د حج تمتع عمره ده کله چې عمره ختمه شوه احرام لرې کړئ نور به د حج تر نيټې پورې انتظار ياست په دغو ورځو کې نورې نفلي عمري او نفلي طوافونه هر څومره مو چې وس وي خپل ځان خپلو والدينو او نورو خپلوانو ته کولای شئ .

## د حج او عمرې مختصرې دعاګانې

**د حاجي دعا په خاص ډول قبلیږي :**

د حاجې دعا د لاندې دوو حديثونو په دليل قبلیږي .

**اول :** داچې حاجي مسافر وي او د مسافر دعا قبلیږي

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي : «ثلاثُ دعواتٍ مُستجاباتٌ لا شكَّ فيهنَّ دعوةُ المظلُومِ ودعوةُ المُسافرِ ودعوةُ الوالدِ على ولدِهِ»[1] .

ژباړ: درې دعاګانې په خاص ډول سره قبلیږي ددی په قبوليت کې څه شک نشته ، يو د مظلوم دعا،دوهم د مسافر دعا ( حاجې د حق د لارې مسافر دی ) او دريم د مور او پلار دعا د اولاد په حق کې.

[1] – رواه الترمذي .

**دوهم :** د فی سبیل الله مجاهد او حاجي دعا د غزا او حج په موقع کې قبلیږي په دلیل د دغه حدیث شریف : «الْغَازِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ ، وَالْحَاجُّ وَالْمُعْتَمِرُ وَفْدُ اللَّهِ ، دَعَاهُمْ فَأَجَابُوهُ ، وَسَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ»[1] .

ژباړه: د الله د لارې غازې او حج کوونکی او عمره کوونکی د الله د لارې مېلمانه دي ، د دوی دعا قبلیږي او څه چې وغواړي هغه ورکول کیږي .

**په حج کې دعاګانې :**

په حج کې دوه قسمه دعاوي دي

**اول قسم :** حاجي هر وخت د دینا او آخرت د ښیګڼو او کامیابیو او خپل اهل عیال او مسلمانانو د پاره دعا کولای شي ، په کومو مشروع الفاظو چې د ده زړه وي هسې دعا دې وکړې .

**دوهم قسم :** ځنې مسنونه دعاګانې دی چې په خاصو ځایونو کې جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم کړې دي ، د دغو دعا ویل مستحب دی چې په لاندې ډول دي :

**د احرام په وخت تلبه ویل :**

د احرام تړلو وروسته به هر وخت د کیناستلو ، پاڅیدو او د حج د ارکانو د ادا په وخت کې لوستل کیږي .

«لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ»[2] .

ژباړه : ای الله ! ستا په حضور کې حاضر یم ، ستا د حکم په مخکښې مې سرتیټ دی – ستا هیڅ څوک شریک نشته ، زه ستا په دربار کې حاضر یم ، اقرار کوم چې ټول تعریفونه او نعمتونو تا لره دي ، او ټول واک تا لره دی او په دې ستا سره څوک شریک نشته .

**۱- د عرفات دعا :**

---

[1] – رواه ابن الماجه :۲۸۸۸ .

[2] – رواه مسلم :۱۱۸۴ .

«لا إلهَ إلاَّ اللَّه وحْدهُ لاَ شَرِيكَ لهُ، لَهُ المُلْكُ، ولَهُ الحمْدُ، وَهُو عَلَى كُلِّ شَيءٍ»[1] .

ژباړه : نشته لائق د عبادت مګر الله چې يو دی او شريک نه لري ، ده لره پاچاهي ده او او ده لره ټولې ستاينې دي ، او هغه په هر څه باندې توانا دی .

عرفات د دعا د قبليدو ځای دی ، دلته د آدم عليه سلام توبه قبوله شوې ده .

**۲- په صفا او مروی کې دوعا :**

صفا ته د ختلو پر مهال به [إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ] وايي قبلې ته مخامخ کيدل او بيا درې ځله الله اکبر ويل او بيا دا دعا ويل : [لا إله إلا الله وحده لا شريك له . له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير] او يا دا دعا [لا إله إلا الله وحده، أنجز وعده، ونصر عبده، وهزم الأحزاب وحده][2] دعا درې ځله تکرارول او بيا چې کله مروی ته کوز شي همدا دعا لکه څنګه چې په صفا کې ويل کيږي لوستل .

**۳- د جمرو په وخت کې دعا :**

کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو ځلې د جمرو ويشتلو نه فارغ شو بيا به قبله ته مخامخ خپل لاسونه به يې پورته کول او دعا به يې کوله او بيا به يې د بل ځلې په ويشتلو پيل کولو او بيا به يې دعا کوله[3] .

**۴- په مشعرالحرام او د کعبې شريفې د دننه په هر ځای دعا کول :**

مشعر الحرام او بيتې شريفې هر ځای چې وي دعا کول مستحب دي ، جابر رضی الله عنه وايي : چې کله رسول الله مشعر الحرام ته ورسيدو مخ به يې قبلې ته کړ ، دعا به يې کوله ، تکبير او تهليل

[1] – رواه الترمذي :٣٥٨٥ .
[2] – رواه مسلم :١٢١٨ .
[3] – رواه البخاري :١٧٥٢ .

(لومړی کلمه ) او د توحید کلمه به یې لوستله ، همدارنګه اسامه بن زید رضی الله عنه وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د کعبې داخل هر ځای دعا کوله .

لحديث جابر رضي الله عنه أيضا وفيه: «... ثُمَّ رَكِبَ الْقَصْوَاءَ حَتَّى أَتَى الْمَشْعَرَ الْحَرَامَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَدَعَاهُ وَكَبَّرَهُ وَهَلَّلَهُ وَوَحَّدَهُ فَلَمْ يَزَلْ وَاقِفًا حَتَّى أَسْفَرَ جِدًّا »[١] .

عن أسامة بن زيد رضي الله عنه: «أَنّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا دَخَلَ الْبَيْتَ دَعَا فِي نَوَاحِيهِ كُلِّهَا»[٢] كُلِّهَا»[٢]

**د ملتزم دعا :**

د حجرالاسود او کعبې تر دوازې پورې چې څومره حصه ده دغه ته ملتزم وایي او په دې حصه کې د دعا کول مستحب دي ، په دې موقع کوم خاص دعا نه ویل کیږي څنګه دعا چې د حاجي خوښه وي هغه دې وکړي ، څنو فقهې کتابونه د ملتزم دغه دعا نقل کړی ده : یا واحد ! یا ماجد ! لا تزل عني نعمة أنعمت بها علي إلا رأيته (ددې اسناد ضعیف دي) .

همدارنګه د حجرالاسود او رکن یماني ترمینځ دا دعا ویل کیږي : «رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ»[٣] .

ژباړه : ای زمونږ ربه ! مونږ لره په دنیا کښی هم نیکی راکړې او په آخرت کښی هم او مونږ د اور له غذابه وساتی

**د میزاب رحمت (د کعبې شریفې د ناوې لاندې ) دعا :**

په دې ځای کې هم دعا کول مستحب دي ، کوم خاص دعا نشته ، حاجې به په اخلاص سره پخپله خوښه د دنیا او آخرت د ښېګنو دعا کوي .

---

١ – رواه مسلم .
٢ – رواه مسلم :٢٣٧٢.
٣ – رواه أحمد في "المسند" (411/3) وصححه ابن حبان (134/9).

**د زمزم د اوبو دعا :**

د زمزم د اوبو څښلو دا دعا ده : «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا وَرِزْقًا وَاسِعًا وَشِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ»[1]

ژباړه : ای الله زه ستا نه علم نافع ،رزق واسع او د ټولو امراضو شفاء غواړم .

دغه پورته څو مختصرې دعاګانې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په صحي روایاتو ثابتې شوې دي او د هغه لوستل مستحب دي .

نورې چې کومې دعاوې په کتابونو کې ذکر شوې دي اکثریت یې اصل نه لري د دهغو دعاوو د زده کولو پر ځای دې د حج احکام زده کړي په هغه باندې دې خپل وخت نه ضایع کوي .

د حج د مناسکو په کومو ځایونو کې چې دعا قبلیږي :

۱- په ملتزم کې (د کعبې د دروازې او حجره اسود تر مینځ حصه).

۲- د کعبې په داخل کې چې د حطیم دیوال داخل د کعبې شریفې حکم لري .

۳- د زمزم د اوبو څښلو پر مهال .

۴- د صفا په غونډۍ باندې .

۵- د مروه په غونډۍ باندې

۶- د عرفات په میدان کې .

۷- په مزدلفه کې .

۸- د جمرو ویشتلو وروسته .

[1] – سنن دارالقطني :۲۴۰۶ و مستدرک الحاکم .

# څلورم فصل

## د حج د ادا کولو لنډه نقشه

↓

د ذوالحجې په آتمه منا ته تلل

↓

د ذوالحجې په نهمه عرفات ته تلل

↓

شپه په مزدلفه کې تیرول

↓

د ذوالحجې په لسمه منا ته تلل د عقبې جمرې ویشتل ، قرماني کول ، د سر د ویښتانو خریل یا کمول او بیا مکې ته تلل طواف زیارت ادا کول

↓

په منا کې دوې درې شپې تیرول او هره ورځ د زوال څخه وروسته درې واړه جمرې ویشتل

**تشریح :**

تاسې ته به د ذوالحجې په آتم تاریخ خبر درکړی شي چې ځانونه مو برابر کړئ احرامونه وتړئ چې په فلاني وخت حرکت کوو .

په خپل اتاق کې به احرام وتړئ د احرام تړلو مخکې به نوکونه ، د تخرګ او شرمکاه ویشتان لري کړي ، غسل به وکړي ، خوشبویي به ووهي ، لنګ به ووهي د هغه د پاسه به چادر واغوندې ، که مکروهه وخت نه وي دوه رکعته نفل لمونځ به د احرام په نیت وکړي .

د هغه وروسته به د حج نیت وکړئ ،د نیت نه پس به په اوچت آواز د تلبیه ویل شروع کړئ ، د لمانځه نه علاوه هر وخت په لوړ ځای ختلو ، ښکته کیدو ، سورلې ته پورته کیدو او کوزیدو په وخت کې لوستل کیږي ، متمتع حاجې به د حجرالاسود د ښلولو یا مسحې وروسته تلبیه پریږي دي د تلبیه الفاظ دا دی :

(لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ)

ښځه به خپلې ګنډلې جامې اغوندې ، خوشبويي به نه وهي ، مخ او لاسونه به نه پټوي .

وروسته به بسونه راشي او تاسې به منا ته نقل کړي .

په منا کې يوازې اوسيدل او هلته پنځه لمونځونه ادا کول لکه : د ماسپښين لمونځ ، د مازديګر لمونځ ، د ماښام لمونځ ، د ماسختن لمونځ او د سهار لمونځ ادا کول او شپه تيرول سنت دي .

په منا کې د سهار د لمانځه وروسته به مو د ريل په وسيله عرفات ته انتقال کړي د ذوالحجې نهمه ورځ به هلته تيره کړئ د ماسپښين او مازديګر لمونځونه به په عرفات کې ادا کړئ کله چې لمر پرېوځې د عرفات څخه مو به د ريل په وسيله مزدلفې ته انتقال کړي په مزدلفه کې د ماښام ، ماسختن او سهار لمونځ ادا کيږي او د لمر ختلو وروسته مو د ريل په وسيله منا ته انتقالوي په منا کې چې د اختر ورځ ده جمرې به ولئ بيا به قرباني وکړئ او بيا به سر وخريئ او بيا به مکې ته د طواف زيارت د پاره لاړ شئ ، د طواف زيارت وروسته به منا ته شپه يوسئ په منا کې به د زوال وروسته دوې ورځې جمرې ولئ او وروسته به مکې ته لاړ شئ . اوس د حج يوازې يو نسک پاتې شو چې هغه طواف وداع دی هغه به د مکې څخه د وتلو پر مهال ادا کړئ .

## د حج د ادا کولو مفصل بيان ( د حج پنځه يا شپږ ورځې)

حجاج کرام دې پوه شي چې د کوم ستر مقصد د پاره چې تاسو خپل کور ، کهول ، خپلوان ، کاربار او وطن پرې ايښې دی او دغه اوږد سفر مو په ځان منلی دی دا صرف د دغو ډيرو مهمو او متبرکو پنځو او يا شپږو ورځو مناسکو لپاره دی چې عبارت دي له :

د ذوالحجې اتمه ، نهمه ، لسمه ، يوولسمه ، دوولسمه او دريارلسمه ورځ ده ، د دغو ورځو د ارکانو ، احکامو او مسائلو زده کړه ضروري ده ، چې په لاندې ډول مختصراً بيانيږي .

## د حج لومړی ورځ د ترویه ورځ (د ذوالحجی اتمه )

**د دغه ورځې اعمال او کارونه عبارت دي له :**

۱- د مکې څخه منا ته تلل .

۲- په منا کې د ماسپښین ، مازدیګر ، ماښام ، ماسختن لمونځ کول .

۳- په منا کې شپه تیرول او همدلته د سهار لمونځ ادا کول .

**تفصیل :** د ترویې په ورځ اتمه د ذوالحجې به غسل وکړئ ، متمتع او مکې اسیدونکی به له خپلې کوټې (اتاق) څخه احرام وتړي ، یو ورځ تر مخه د احرام تړل هم جایز بلکي افضل دي ، د سهار لمونځ به په مسجد الحرام کې په جماعت سره ادا کړي ، بیا به د احرام دوه رکعته لمونځ وکړئ ، نیت دې وتړي او تلبیه دې ووایي .

کچیرې د طواف زیارت سعې اوس کوي نو نفلي طواف او سعې دې وکړي ، بیا به خپلې ګوټې ته لاړ شي د احرام دوهمه جوړه ، د ضرورت سامان ، د قربانۍ او نور لګښت د پاره څه اندازه پیسې ، د حج کتاب ، د اوبو پتک ، د اسهال او نور ضروري درمل به له ځانه سره واخلي د مکې څخه به د لمر ختلو وروسته منا ته روان شي او که تر زوال وروسته منا ته لاړ شي او هلته د ماسپښین لمونځ وکړي پروا نه لري .

په منا کې یوازې اوسیدل او هلته پنځه لمونځونه ادا کول لکه : د ماسبښین لمونځ ، د مازدیګر لمونځ ، د ماښام لمونځ ، د ماسختن لمونځ او د سهار لمونځ ادا کول او شپه تیرول سنت دي .

د منا په لاره او په منا کې د اوسیدو پر مهال به تلبیه ډیر ډیر وایاست همدارنګه استغفار ، درودونه او دعا به کوئ .

**مسئله :** د ذوالحجې د اتمې احرام تړونکی که د حج سعې تر طواف زیارت د مخه ادا کوي نو ده ته په کار ده چې یو نفلي طواف د اضطباع او رمل سره وکړي بیا سعې وکړي ، دا د حج سعې شوه وروسته د ذوالحجې په لسمه یا د اختر په ورځ بله سعې نشته خو افضله دا ده چې تر طواف وروسته وشي .

## د حج دوهمه ورځ د ذوالحجې نهمه یا د عرفې ورځ

**د عرفې د ورځې اعمال عبارت له :**

١- په منا کې د سهار د لمانځه له ادا کولو وروسته عرفات ته تلل .

٢- په عرفات دریدل .

٣- د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه په عرفات کې ادا کول .

۴- مزدلفې ته تلل او په مزدلفه کې د ماښام او ماسختن لمونځونه یو ځای د ماسختن پر وخت ادا کول .

۵- شپه په مزدلفه کې تیرول .

**شرحه :** په منا کې د سهار د لمانځه وروسته به په لوړ آواز د تشریق تکبیرونه ووایي کوم چې د ذوالحجې د نهمې نه شروع تر دریارلسمې تر نمازدیګر پورې د هر لمانځه وروسته یو ځل ویل واجب دي .

کله چې ښه رڼا خپره شي د عرفات په لورې روانیدل ، تر لمر ختلو مخکې عرفات ته تلل د سنتو خلاف دي .

دا ډیره مهمه د دوزخ څخه د نجات ، مغفرت او رحمت ورځ ده ، په دې ورځ باندې په عرفات دریدل د حج ستر رکن دی ، که په عرفات دریدل پخپل وخت له چا څخه پاتې شي حج یې نه صحي کیږي .

د عرفات د ورځې له زوال څخه بیا تر لمر لویدو پورې پر عرفات دریدل واجب دي ، د عرفات ټول میدان موقف ( د دریدلو ځای ) دی خو په بطن عرنه کې دریدل جایز نه دي ، د عرفات د میدان پولې او حدود ښه شوي دي د هغه څخه د باندې دریدل جایز نه دي .

د عرفات په میدان کې جبل الرحمه ته نږدې دریدل افضل دي خو اوس د هر حاجي د پاره خپله خیمه ټاکل شوې وي .

څرنګه چې دا د فضیلت ، رحمت او مغفرت ورځ ده سړی به خپل ظاهر او باطن پاکوي د زړه په حضور سره به ځان خپل اهل عیال ، ولس او اسلامي امت ته دعا کول ، استغفار ، درود ، د قرآنکریم تلاوت ، اذکار ، د الله تعالی څخه بخښنه غوښتل او ژړا کول مستحب دي .

د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په عرفات کې دا دعا ثابته شوې ده : «لا إلهَ إلَّا اللهُ وَحْدَه لا شريكَ له، له المُلْك وله الحَمْدُ ، وهو على كلِّ شيءٍ قديرٍ»[١] .

ژباړه : نشته لائق د عبادت مګر الله چې یو دی او شریک نه لري ، ده لره پاچاهي ده او او ده لره ټولې ستاینې دي ، او هغه په هر څه باندې توانا دی .

ګرانه ! دا د زاریو او ژړا ځای دی .نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چې د عرفات په جبل الرحمت باندې کومه ژړا او زاری باندې دوعا غوښتی وه ابن عباس یې داسې روایت کوي :

چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په عرفات کې داسې په دعا ولیدلو چې دواړه لاسونه یې د سینی سره خواره کړي وو او داسې دعا یې غوښتله لکه چه یو وږي مسکین په عاجزی سره د چانه یوه لمړی ډوډی غواړي او هغوی صلی علیه وسلم د امت د بخښنی لپاره دعا کوله .

په عرفات کې دریدل مستحب دي ، څومره یې چې وس وي ودې دریږي که ټول وخت یې توان نه وي کیناستل او حتی پرېوتل هم جایز دي (عمدة الفقه ) .

١ – رواه الترمذي :٣٥٨٥ .

**ځنې اشتباهات چې د عرفې په ورځ ترسترګو کیږي :**

۱- ځنې حجاج د عرفات له حدودو څخه د باندې وي حال دا چې د عرفات حدود په نښه شوي وي چې په دې کار سره د حج ستر رکن له لاسه ورکوي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي : الحج عرفه ( حج همغه د عرفات ورځ ده )

۲- ځنې حجاج کوښښ کوي چې د جبل الرحمه غره ته ځان ورسوي او هلته د غره په ډبرو باندې ځان و موښي داسې کول بدعت دی . د حاجي د پاره په عرفات دریدل کافي دي .

۳- ځنې حجاج د عرفات په ورځ چې د مغفرت او رحمت ورځ ده په خبرو کولو ، بحث کولو او خندا کولو مشغول وي او په دې مهمه ورځ باندې د دعا او مغفرت غوښتلو جانس له لاسه ورکوي .

۴- ځنې حاجيان د دعا په وخت خپل مخ د غره خوا ته کوي حال دا چې قبلې ته مخامخ کيدل او دعا کول سنت دي .

۵- ځنې حاجيان د لمر لویدو څخه مخکې د عرفات له پولو څخه وځي چې داسې کول حرام دي دم وربانديې واجبیږي او که د لمر لویدو مخکې عرفات ته بیرته راشي د دم څخه خلاصیږي .

## د حج دريمه ورځ د اخترورځ (د ذوالحجې لسمه )

**د دغه ورځې مناسک په لاندې ډول دي :**

۱- په مزدلفه کې وقوف او د لمر ختلو وروسته منا تلل .

۲- د لومړۍ عقبې جمرې ويشتل .

۳- قرباني کول .

۴- د سر خریل یا د ویښتانو لنډول .

۵- مکې ته تلل او طواف زیارت یا طواف حج ادا کول .

۶- شپه په منا کې تیرول .

**په مزدلفه کې دریدل :** په مزدلفه کې د سپیدو څخه تر لمر ختلو پورې دریدل واجب دي که له چا

څخه په دغه وخت کې دریدل پاتې شي دم ورباندې واجبیږي ، خو که څوک د کمزورۍ یا ناروغۍ له

امله نشي کولای وقوف وکړي په هغوی باندې دم نه لازمیږي .

د مزدلفې ټوله ساحه د دریدلو ځای دی مگر د مشعرالحرام غره لمن اوسني لوی جومات ته نږدې

دریدل افضل دي خو په وادي محسر کې دریدل منع دي ځکه په دې ځای کې د ابرهه لښکر تبا

شوی دی ، اوس مهال له دغه ځای څخه اغزن سیم را گرځول شوی دی .

**له مزدلفې څخه منا تلل :** د لمر ختلو وروسته به په پوره وقار او آرام سره منا ته لاړ شي چې اوس

مهال حاجیان د ریل په وسیله ځي په لاره به تلبیه ، ذکر او استغفار کوي او د محسر له وادي څخه

په چټکې سره تیریږي .

**د عقبې جمرې ویشتل :** په منا کې د سرک په مینځ کې درې ځلې دي چې جمرات یا جمار ورته وايي دا

ځلې د مکې له لورې څخه جمرة العقبه ، جمرة الکبری ، جمرة الوسطی بلل کیږي ، چې د اختر په

ورځ یوازې د عقبې جمره په اوو شگو ویشتل کیږي .

د جمرې شگه په د ښي لاس په بټه گوته او د شهادت گوته نیول مستحب دي د هرې شگې ویشتلو

سره به بسم الله الله اکبر ویل کیږي .

که کومه شگه د احاطې د باندې ولویږي هغه ضایع ده د هغې په عوض به بله شگه وولئ .

د جمرې ویشتلو د پاره له جمرې څخه پنځه گزه لرې دریدل په کار دي تر هغه په کمه فاصله

دریدل مکروه دي او زیاته فاصله باک نه لري .

د عقبې جمرې د لومړۍ شگې ویشتلو څخه تلبیه بندول په کار دي مگر که چا تر زوال پورې د

جمرې ویشتل نه وي کړي نو تر څو مو چې ویشتل نه وي کړې هغې پورې تلبیه مه بندوئ .

د جمرو ویشتل واجب دي د هغه په ترک سره دم واجبيږي .

**قرباني :** د عقبې جمرې ویشتلو وروسته به د حج د شکرېي په نیت نه د قربانی په نیت ذبح وکړي ، څوک چې پخپله ذبحه کولای هغه ته پخپل لاس ذبحه کول مستحب دي او که خپله ذبحه نشي کولای بیا د ذبحې تر څنګ دریدل مستحب دي ، د ذبحې په وخت کې به دا دعا وايي :

[اِنِّی وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّموتِ وَالاَرْضَ حَنِفًاوَّمَآاَنَامِنَ الْمُشْرِکِیْنَ اِنَّ صَلوتِی وَنُسُکِی وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِی لِلهِ رَبِّ  الْعلَمِینَ لاَشَرِیْکَ لَه وَبِذالِکَ اُمِرْتُ وَاَنَامِنَ الْمُسْلِمِیْنَ اَللهُمَّ مِنْکَ وَلَکَ].

ژباړه: ما خپله توجه له هرطرف نه کښ کړی ده د هغه ذات طرفته راګرځیدلی یم چه آسمانونه اوځمکی یی پیداکړی دي او زه د مشرکانو څخه نه یم ،زما لمونځ ،زما حج او ټول عبادتونه او زما ژوند او زما مرګ ټول د الله د پاره دي ،چه هغه د ټول جهان مالک دی او د هغه سره څوک شریک نشته ،ماته ددې حکم شوی دی او زه فرمانبردار یم ،ای الله ! دا هرڅه ستا ورکړه ده اوستا د پاره ده .

که یی دوعا یاد نه وي په زړه کی دې  نیت وکړی بسم الله او الله اکبر به ووايي.

ددې قربانۍ احکام کښ مټ د اختري د قربانې په شان دي .

**د سرخریل یا لنډول :** د قربانۍ څخه وروسته به حاجې خپل سر وخريځ او یا به د سر ويښتان لنډ کړي (حلق او تقصیر ) به وکړي ، ښځې به د سر ويښتان جمع کړي يوازې د يوې ګوتې په اندازه به يې لنډ کړي د ښځو د پاره د سر خريل نشته .

**د طواف زیارت د پاره مکې ته تلل :**کله چې حاجي د رمی ، ذبحې او سر خريلو څخه فارغ شي د بيت الله شريف طواف به وکړي دا طواف د حج رکن دی دې طواف ته طواف افاضه ، طواف حج او

فرضي طواف هم وايي ، دا طواف د اختر په ورځ د ذوالحجې په لسم افضل دی د دوولسمې تر لمر لوېدو پورې (د ورځې او شپې ) جايز دی .

**منا ته تلل :** د طواف زيارت وروسته منا تلل په منا کې شپه کول سنت دي .

## د حج څلورمه ، پنځمه او شپږمه ورځ

د طواف زيارت وروسته به حاجيان منا ته ځي په منا کې شپه تيرول سنت دي او د زوال نه وروسته به دري واړه جمري ولي د جمرو ويشتلو په وخت کې به تکبيرونه وايې او بيا به دعا کوي د جمري ويشتل به له جمرې اولی (لومړی جمرې ) نه شروع بيا منځنې جمره او په پای کې به د عقبی جمره وولي . د رمی وخت د دیارلسمې تر لمر لويدو پورې دی د هغه نه پس وخت پای ته رسيږي . د قضا په صورت کې دم واجبيږي .

**طواف وداع يا طواف صدر:**

په دولسم تاريخ د لمر پريوتلو مخکې به له منا نه مکی ته لاړشي په لاره کې به په وادئ مُحصت کې د څه وخت لپاره کوز شي دلته کوزيدل سنت دي دعا به وکړي ښه دا ده چې د ماسختن لمونځ هم دلته وکړي بيا به مکې ته راشي په مکه کې چې هرڅو پورې يې خوښه وي پاتی کيدای شي کله چې له مکی نه رخصتيږي نو طواف وداع به کوي دا د خدای په امانی ورستی طواف دی . په دې طواف کې رمل او سعې نشته .

## د مناسکو د ادا کولو تفصيل

**د احرام تړلو طريقه :**

د عمري يا حج نيت تړلو ، د حج د جامو اغوستلو او تلبيه ويلو ته احرام وايي،د حج نيت کولو او تلبيه ويلوڅخه وروسته سړی محرم کيږي لکه په لمانځه کې چې د تکبيرتحريمه ويلو وروسته بنده په لمانځه کې داخليږي او له خوړلو،خبرو کولو،تلل او نور ورباندې حراميږي په همدې ډول له احرام

تړلو وروسته حج شروع کيږي او ډيرڅيزونه چې د احرام نه مخکې حرام نه ؤ د احرام تړلو وروسته حراميږي .

د احرام تړلو طريقه دا ده چې حج کونکی بايد مخکې له ميقيات راتلو احرام تړل شروع کړي او که څوک د ميقيات نه مخکې احرام وتړي هم جايز دی.

**د احرام تړلو سنته طريقه :**

د احرام تړلو مخکې به نوکان ، د بغل ويښتان او د شرمګاه ويښتان لرې کړي ځکه د احرام په حالت کې يې لرې کول نشته ، بيا به غسل وکړي بيا به د احرام لباس (لنګ او د هغه د پاسه چادر ) واغوندي ، خوشبويي به ووهي ، بيا که مکروه وخت نه وي دوه رکعته نفل لمونځ به وکړي ، بيا به د عمري يا حج نيت وکړي د نيت نه پس به په لوړ آواز درې ځله تلبيه ووايي [لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ ، لَبَّيْكَ لا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لا شَرِيكَ لَكَ]

تلبيه به د لمانځه نه علاوه هر وخت په لوړ ځای د ختلو او د کوزيدلو سورلی ته د پورته کيدو او کښته کيدو په وخت کې وايي د احرامو تړلو نه پس د حج يو فرض ادا شو .

**د ښځو احرام :** ښځې به هم ټول ذکر شوي آداب په نظر کې نيسي صرف په دريو څيزونو کې له نارينوو سره فرق لري :

١- ښځه به داسې ګنډل شوی جامی اغوندی څنګه چې د احرام نه مخکې يې اغوستی او خوشبويی به نه وهي .

٢- سرږ لپاره په احرام کې سر پټول منع دي او ښځه د پاره چې څنګه د احرام نه مخکې د سر او ويښتانو پټول ضرور دي همداسې په احرام کې يې هم پټول ضرور دي ، مګر د مخ پټول نشته .

٣- نارينه به تلبيه په اوچت آواز وايي مګر ښځې به يې په زوره او اوچت آواز نه وايي .

**د احرام د صحت شرطونه :**

۱- اسلام

۲- د احرام نیت

۳- تلبیه ویل

**د احرام واجبات :**

۱- د میقات څخه احرام تړل.

۲- د احرام له ممنوعاتو څخه ځان ساتل .

**د احرام سنتونه :**

۱- د حج په میاشتو کې احرام تړل .

۲- د خپل ملک له میقات څخه احرام تړل .

۳- د احرام لپاره غسل او یا اودس کول لکن غسل کول افضل دي .

۴- د احرام دوې جامې (چادر او لنګ ) اغوستل .

۵- د احرام په نیت دوه رکعته نفل لمونځ کول .

۶- تلبیه دری ځله تکرارول .

۷- د نارینه د پاره په لوړ آواز تلبیه ویل او د ښځو د پاره په کراره ویل .

۸- د احرام تر نیت مخکې خوشبویي وهل .

**د احرام مستحبات :**

۱- د نوکانو پرې کول، د بغل د ویښتانو او د نامه لاندې ویښتانو خریل .

۲- د احرام د لباس سپین رنګ ، اویا نوي پرېمنځل شوي جامې .

۳- د لمانځه څخه وروسته په ناسته نیت کول .

۴- د میقات څخه مخکې احرام تړل .

**د احرام ممنوعات :**

**۱- جماع :**

له احرام تړلو وروسته د میړه او ښځې کورواله (جماع ) کول او د جماع پارونکي چارې لکه مچې یا په شهوت سره یو بل ته لاس وروړل منع دي :

[الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَّعْلُومَاتٌ ۚ فَمَن فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ][1]

ژباړه: نو په حج کې نه د ښځو د شهوت خبرې کول شته او نه (د الله) نافرماني او نه جګړه.

رفث څخه د جماع پارونکي خبرې مراد دي .

**د جماع کفاره :**

جماع او د جماع خبرې او افعال په احرام کې ممنوع دي او جماع کول په لاندې دوو صورتونو کې حج فاسدوي .

الف ): دا چې په فرج (د مخې طرف شرمګاه ) کې وي .

ب ) : حنفیه رحمهم الله وایي : دا چې په عرفات باندې د دریدو څخه مخکې وي حج یې فاسد شو ، کفاره یې یو پسه دی او راتلونکي کال کې به له سره حج ادا کوي .

مګر که د عرفات د دریدو څخه وروسته د سر خریلو څخه مخکې جماع وکړي حج یې نه فاسدیږي بلکې کفاره یې د بدنه (اوښ) ذبح کول دي .

او که د جماع پرته په شهوت سره لمس او نور افعال وکړي انزال وشي یا ونشي کفاره به ادا کوي .

[1] – سوره البقره :۱۹۷ .

حنابله ، مالکیه او شافعیه رحمهم الله وایي : د لومړي تحلل څخه مخکې جماع کولو سره حج فاسدیږي کفاره هم وربانديږ واجبیږي چې د بدنه ذبح کول دي .

لومړی تحلل کله چې دریو اعمالو (رمی جمره عقبه ، حلق ، طواف افاضه) څخه دوه تر سره کړي .

مګر که د لومړي تحلل څخه وروسته جماع وکړي په هغه باندې د پسه د ذبحې کفاره ده حج یې صحیح دی .

**کله چې د جماع کولو په وجه د چا حج فاسد شي لاندې اعمال به ترسره کوي :**

اول : د حج پاتې مناسک به ادا کوي ،لقوله سبحانه وتعالی: [وَأَتِمُّوا الحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ][1] .

دوهم- په راتلونکي کال کې به د حج قضایي کرځوي .

دریم : په عرفات باندې له دریدو څخه مخکې جماع باندې د شاة (پسه ) کفاره ده .

څلورم : ګناه کچېږې قصداً کړی وي .

**۲- جنګ جدال :**

د خپلو ملګرو او یا له بل چا سره جنګ کول ، غیبت کول ، دروغ ویل ، بهتان کول او ګنځل او فحش ویل ، لقوله سبحانه وتعالی : فلا رفث ولا فسوق ولا جدال في الحج

**۳- صید (ښکار) کول :**

د وچې د ځاروي ښکار کول او یا په ښکار کولو کې کومک کول او یا د هغه هګۍ ماتول ، وزرونه کښل ، هګۍ او غوښې پخول ، خوړل او خرڅول او د ښکار شوي ځاروي شیدې لوشل منع دي:

لقوله سبحانه وتعالی : [أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ][2] [المائدة: ٩٦].

---

[1] – سوره البقره :۱۹۶ .

[2] – سوره المائده : ۹۶ .

ژباړه: ستاسو لپاره د سمندر ښکار او د هغه طعام حلال کړی شوی دی، ستاسو او د (نورو) مسافرو د فايدې لپاره، او پر تاسو باندې د وچې ښکار حرام کړی شوی دی، څو پورې چې تاسو په احرام کې يئ. او تاسو له هغه الله نه ووېرېږئ چې تاسو به خاص هغه ته ورجمع کولی شئ.

او فرمايي: [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَأَنتُمْ حُرُمٌ][1] .

ژباړه: ای مؤمنانو! تاسو ښکار مه وژنئ (ښکار مه کوئ)، په دې حال کې چې تاسو په احرام کې يئ.

د پورته آيت شريف په رڼا کې محرم ته د وچې ښکار کول منع دي مګر دا چې وحشي وي لکه : زمرى ، پړانګ او يا مضر وي لکه : موږک ، لړم او نور ، په حديث شريف کې راغلي دي :

«خَمْس فَوَاسِق يُقْتَلْنَ فِي الْحِلّ وَالْحَرَم: الْحَيَّة وَالْغُرَاب الْأَبْقَع وَالْفَأْرَة وَالْكَلْب الْعَقُور وَ الْحِدَأَة»[2]

ژباړه : پنځه مضر په حل او حرم قتل کړئ ،

مګر د محرم لپاره د درياب ښکار کول مطلق جايز دي او همدارنګه د اهلي حيواناتو ذبح لکه : اوښ ، غوايی ، پسه او نور او همدارنګه هغه مرغان چې په هوا کې نه الوزې لکه څرګان حلال دي په دليل د دغه آيت شريف : [أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ مَتَاعًا لَّكُمْ].

ژباړه: او د هغو بحري حيواناتو چې غوښې نه خوړل کيږي په ښکار کولو باندې څه نشته .

د احرام په حالت کې د سپږې ، مږې ، مچی ، هدهد صرد وژل منع دي .

او هغه حيوانات چې شريعت يې په اړه سکوت کړی دی اصل دا دی چې ممنوع دی مګر دا چې مضر وي .

**۴- خوشبويي او د ويښتانو او نوکانو پرې کول:**

په بدن او جامه خوشبويي وهل ، د نوکانو ، او ويښتانو خريل او لري کول او د ږيرې رنګول منع دي.

لقوله تعالى: [وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ ][3] .

[1] – سوره المائده :۹۵ .
[2] – رواه مسلم :۱۱۸۹ .
[3] – سوره البقرة :۱۹۶ .

ژباړه: او خپل سرونه مه خرَوئ تر هغه چې قرباني خپل (د حلالې) ځای ته ورسي.

لقوله صلّى الله عليه وسلم : « وَلا يَلْبَسْ مِنْ الثِّيَابِ شَيْئاً مَسَّهُ زَعْفَرَانٌ أَوْ وَرْسٌ »[1]

- ✓ خوشبويي وهلو کې «الصابون المعطر» (عطرو واله صابون) استعمال هم منع دی .
- ✓ د قصد پرته د خوشبويي حس کول باک نلری .
- ✓ د احنافو په نزد د رنجو استعمال باک نلري ځکه هغه خوشبويي نه لري .

ولابأس عند الحنفية أن يكتحل؛ لأن الكحل ليس له رائحة طيبة[2] .

که پخپله کوم ویښته ولویږي او یا کوم نوک مات شي باک نلري .

**فديه :**

د پورته ممنوعات فديه ادا کول فرق لري .

- ✓ کچېرې څوک د کوم عذر پرته د احرام په حالت ټول سر یا د هغه څلورمه حصه وخريي دم وربانديې واجبيږي او که د کوم عذر له مخې وي نو په دغو دريو شيانو کې اختيار لري ، لقوله سبحانه وتعالى : [فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِّن رَّأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِّن صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ صدقة أو نسك][3] .

ژباړه: پس څوك چې په تاسو کې ناجوړه وي، یا ده ته په خپل سر کې څه تکليف وي، نو (په ده) فديه لازمه ده په روژې سره، یا په صدقې سره، یا په قربانی سره.

- ✓ او که د څلورمې برخې څخه کم وي صدقه وربانديې لازميږي .

[1] – صحيح ابن حبان :۳۷۶۱.
[2] – فقه اسلامي وادلته – محظورات الأحرام.
[3] – سوره البقره :۱۹۶ .

- ✓ همدارنګه د بریتونو په خریلو باندې صدقه ده او د بطین په خریلو باندې دم واجبیږي او د لاسونو او پښو د نوکانو په پرې کولو سره دم واجبیږي ، د یو نوک په پرې کولو او یا یو وېښته سره نیم صاع فدیه ورکول لازمیږي .

**۵- د سر او مخ پټول :**

د سر په پټولو کې غوړونه او مخ هم شامل دي په حدیث شریف راغلي:« وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، فإِنَّه يُبْعَثُ يَومَ القِيَامَةِ »[۱] .

مګر د چطرۍ او ساسبان کارول باک نلري همدارنګه د احرام په حالت کې د خوب پر مهال د مخ پټول باک نلري .

**۶- ګنډلي جامې اغوستل :**

ګنډلي جامې اغوستل کوم چې بدن باندې وصل وي د احرام په حالت کې منع دي، په حدیث شریف کې راغلي : «لا يلبسُ السراويلَ ولا القمصَ ولا البرانسَ ولا العمامةَ ، ولا ثوبًا مسَّهُ زعفرانٌ ولا ورْسٌ» «لا يَلْبَسُ القَمِيصَ، ولَا العِمَامَةَ، ولَا السَّرَاوِيلَ، ولَا البُرْنُسَ، ولَا ثَوْبًا مَسَّهُ الوَرْسُ أوِ الزَّعْفَرَانُ»[۲]

یعنې : نه به اغوندې پطلون او پرتوګ ، او نه قمیص او نه زیرپېراني او نه پګړۍ او نه داسې جامه چې په زعفرانو وي او یا رنګ کړ شوې وي.

- ✓ د احرام د جامو څخه علاوه هغه جامې چې په بدن باندې وصل وي یعنې د اندام په اندازه وي لکه : قمیص ، پرتوګ ، نیکر ، جرابې ، دستکش او نور که څه هم ګنډل شوي نه وي منع دي ځکه هر هغه جامه او لباس چې په بدن وصل وي یا د اندام په اندازه وي «المخیط» (ګنډل شوې) بلل کیږي برابره خبره ده که ګنډل شوې وي او یا ګنډل شوي نه وي .

---

[۱] – رواه البخاري :۱۲۶۸ .

[۲] – رواه البخاري :۱۳۴ .

- ✓ د احرام په حالت کې بوټونه او موزې اغوستل منع دي بلکي چپلکې به اغوندې ، مګر که ځوک ځپلکې ونه مومي د بوټونو او موزو اغوستل ورته جایز دي ، لحدیث :«و من لم جد نعلین فلیبس الخفین » .
- ✓ په احرام کې د کمربند اچول جایز دي .
- ✓ که ځوک د میتازو د وتلو عذر ولری هغه لپاره د پمپر یا ټوټې اچول باک نلري.

**د احرام مکروهات :**

۱- له بدن څخه خیرې لرې کول .

۲- د سر یا ږیرې ږمونځول .

۳- په خوشبویي لاس وهل یا يې بویول .

۴- د سر او مخ پرته بې ضرورته پر بدن پټۍ تړل .

۵- د لنګ څنډه را اړول او کمربند پرې تړل .

۶- په جامه باندې پزه او زنې پټول .

۷- پر بالښت پړمخې پرېوتل .

۸- د خپلې میرمنې شرمګاه ته په شهوت سره کتل .

۹- چپنه ، کورتۍ و غیره په اوږه اچول .

**ځو ضروري او مهم مسائل :**

۱- د احرام نیت په زړه کې کول ضرور دي ، د نیت او تلبیه یو ځای کول شرط دی .

۲- تلبیه په ژبه تکرارول شرط دی په زړه کې ویل یې کفایت نه کوي ، که ګونګی وي په ژبه تلفظ نشي کولای هغه به خپله ژبه ور باندې ښوروي .

۳- تلبیه ویل په پښتو او نورو ژبو جایز دي .

۴- د احرام په حالت کې ، په مسجد الحرام کې ، په منا او مزدلفه کې او په عرفات کې تلبیه وایاست لکن په طواف او سعی کې تلبیه مه وایاست .

## د طواف کولو طریقه

طواف په لغت کې له یو شي څخه چاپیره ګرځیدلو ته وایي او په اصطلاح کې د کعبې شریفې نه په اخلاص سره چاپیره ګرځیدلو ته طواف وایې ، طواف په دري ډوله دی ، اول سنت طواف دوهم فرض او دریم واجب طواف دی .

**۱- طواف قدوم :** طواف قدوم یا د سلام کولو طواف دا طواف سنت دی او مسجدالحرام ته د رسیدلو سره سم ادا کیږي .

په مفرد او قِران کې دومره فرق دی چې قارن به مخکې د عمری طواف کوي بیا به طواف قدوم کوي او مفرد به صرف طواف قدوم کوي او په متمتع دا طواف نشته .

**۲- طواف زیارت :**

دا طواف فرض دی د حج دوهم رکن دی که پاتې شي حج نه صحیح کیږي غوره وخت یې لسم د ذولحجې (د اختر لومړی ورځ) ده خو که په څه وجه پاتی شي نو په یولسم او دولسم د ذوالحجې هم ادا کیدای شي .

**۳- طواف وداع یا طواف صدر:**

کله چې حاجې د حج نه فارغه شي د مکې مکرمي څخه د رخصتیدو په وخت کې به دا طواف کوي دا د وداع یا خدای په امانی طواف دی چې حکم یې واجب دی .

**د طواف کولو مسنونه طریقه :**

کله چې حاجی مکې ته ورسیږي په ادب او عاجزی سره به مسجدالحرام ته داخل شي مسجد الحرام ته د داخلېدو په وخت کې به دا دعا ووايي :

«اَللّٰهُمَّ اغْفِرلِیْ ذُنُوْبِیْ وَافْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ»[1]

ای خدايه ! زما ګناهونه معاف کړي او زما لپاره د رحمت دروازي خلاصی کړې .

او کله یې چې په کعبه شریفه سترګې ولګیدې نو تکبیر،تهلیل او درود به ووایې او دعا به وکړي .

د مسجدالحرام نه د وتلو په وخت کې به دا دعاوايي :

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي ، وَافْتَحْ لِي أَبْوَابَ فَضْلِكَ»

ای خدايه ! زما لپاره دې د خپل فضل او کرم دروازې خلاصی کړي او زما لپاره د رزق زریعی آسانه کړي .

د طواف نه مخکې دې حاجی د احرام څادر له ښی تخرګ نه وباسي او په ګینه اوږه به یې واچوي دیته په شریعت کې اضطباع وایې ددی نه پس به بیت الله شریف ته مخامخ داسې چې حجر الاسود مو ښي اړخ ته پاتې شي (د حجر الاسود او رکن یماني تر مینځ دریدل ) په زړه کې به د طواف نیت وکړي :

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُرِیْدُ طَوَافَ بَیْتِکَ الْمُحَرَّمِ فَیَسِّرْهُ لِیْ وَتَقَبَّلْهُ مِنِّیْ

ای خدايه ! زه ستا د محترم کور طواف کول غواړم نو زما لپاره یې ادا کول اسانه کړي او زما د طرف نه یې قبول کړی .

ددی نه وروسته به حجر الاسود ته مخامخ شي استلام به وکړي استلام ، په لغت کې لاس وروړل اوښکلول ته وایې او په اصطلاح کې له استلام نه مقصد د حجرالاسود ښکلول او رکن یماني ته لاس وروړل دي ، داسې چې په حجرالأسود به دواړه لاسونه کیږدي او هغه به کراره مچ کړي که امکان نه

[1] – رواه أحمد :٢٥٨٢٢ .

وو هغه به په لاس مسح کړي او که دا هم امکان نه وو د حجرالأسود طرف ته به مخامخ شي په ښي لاس به اشاره ورته وکړي او بیا به خپل لاس ښکل کړي او یا که د ښي لاس امکان نه وي په چپ لاس به اشاره ورته وکړي [بسم الله الله اکبر] به ووایي ، بیا به د ښي لور څخه چې کعبه شریفه مو کیڼ لور ته وي طواف پیل کړي ، د طواف د هر دور شروع له حجرالاسود نه کیږي چې کله بیرته حجرالاسود ته راورسیږي نو یو شوط دور یا ګردش به پوره شي .

طواف به د بیت الله شریف او حطیم (حطیم هغه ځای دی چه په بیت الله پورې اړه لري) په څاپیر له ښی خوا نه اوه ګردشه به پوره کړئ په داسې ډول چه په دریو لومړیو ګردشونو کې به رمل یعنې د پهلوانی تګ کوئ او په نورو څلورو ګردشونو کې به په عادي حال ګرځئ .

که مو وس رسیدلو نو د هر ګردش او طواف په پای کې به حجرالاسود ته په رسیدو سره هغه ښکل او مسحه کړي او که زیاته ګڼه ګونه وه وسه مو نه وه او د حجراسود په ښکلولو سره خلکو ته د تکلیف رسیدلو ویره ؤ نو مخامخ به ورته و دریږئ او د هغې په لور به د امسا یا لاس په ورغزولو سره د مسح کولو په څیر اشاره کوئ .



**د طواف شرطونه :**

۱- د طواف لپاره نیت کول .

۲- د قادر او توانا لپاره پیاده طواف کول .

۳- طواف د کعبې شریفې څاپیره د مطاف په ساحه کې کول .

۴- هر قسم طواف پخپل وخت کې ادا کول .

۵- دری او زیات څلور گردشه طواف کول فرض دي او اووه گردشه پوره کول واجب دي .

**په طواف کې واجبات :**

۱- طهارت ( د جنابت او بې اودسۍ څخه پاکوالی).

۲- سترعورت (د نارینه لپاره د نامه څخه لاندې تر گونډو پورې پټوالی او د ښځې د مخ ، لاسونو او قدمونو څخه پرته د ټول بدن پټول) .

۳- د ښی طرف نه د طواف شرع کول او کعبه کین لوری ته ساتل.

۴- که څه عذر نه وي نو پیاده طواف کول.

۵- په ولاړه طواف کول .

۶- د حطیم د بهر نه طواف کول .

۷- اوه دورې طواف کول .

که له واجباتو څخه څه پاتي شي دوهم ځل به یې ادا کوي که دوهم ځل یې ونه کړي نو یو قربانی ورباندې لازمیږي .

**کوم څیزونه چې په طواف کې حرام دي :**

۱- د جنابت او بې اودسی په حالت کې طواف کول .

۲- د ستر ښکاره کیدل .

۳- کعبه خپل ښی طرف ته ساتل یعنی په چپ دور طواف کول.

۴- په ناستی سره طواف کول.

۵- په حطیم کې دننه طواف کول.

۶- پرتله له څه مجبوری نه په سورلی سره طواف کول.

۷- د اوو ګردشونو نه کم طواف کول .

کفاره : که د بې اودسی په حالت کې طواف وشي کفاره یې کډ یا چیرلی دي او که د جنابت په حالت کې طواف وشي نو کفاره یې د غوا یا اوښ قرباني ده ځکه چې دا لوی جرم دی ددی نه علاو نور که پاتي شي دوباره به یې اداکوي او که ادا نه شي یو قرباني به ادا کوي .

**د طواف سنت :**

۱- استلام کول .

۲- د نارینه لپاره اضطباع کول .

۳- په لومړي دریو شوطونو کې رمل کول .

۴- په پاتې څلورو شوطونو کې رمل نه کول .

۵- د سعی او طواف تر مینځ استلام کول دا د هغه چا لپاره دی چې تر طواف وروسته سعی کوي .

۶- حجر الاسود ته مخامخ دریدل او د لاسونو پورته کولو په وخت کې تکبیر ویل.

۷- د حجرالاسود څخه طواف شروع کول چې ځنې علماء یې واجب ګڼې .

۸- د طواف ټول شوطونه پرلپسې کول .

**د طواف ممنوعات (محرمات ):**

۱- د جنابت او میاشتنۍ عادت په حالت کې طواف کول منع دي.

۲- بې اودسه طواف کول .

۳- بې عذره په سپرلۍ طواف کول .

۴- بې عذره په ځنګنو یا د شا پر خوا طواف کول.

۵- په طواف کې په حطیم کې تېرېدل .

۶- بشپړ یا لږ شوط ناقص پرېښودل .

۷- له حجرالاسود پرته له بل ځای څخه طواف شروع کول .

۸- په طواف کې بیت الله ته مخ ګرځول خو د طواف په پیل کې حجر الاسود ته مخ کول سنت دي .

۹- د طواف له واجباتو څخه یو واجب پرېښودل .

**په طواف کې مکروهات :**

۱- که د طواف په حالت کې په بدن یا جامه نجاست خفیفه لګیدلی وی.

۲- د ذکر او دعا د ویلو پر ځای فضولې او عبسی خبرې.

۳- د څه شي خوړل.

۴- اخستل او خرڅول کول.

۵- د یو یا دوه دوره ګردش نه پس هسی کیناستل.

۶- د طواف پوره کولو نه پس په مقام ابراهیم باندې د لمانځه ادا کولو نه مخکې بیا بل طواف شروع کول .

۷- اضطباع نه کول.

۸- دحجراسود استلام پرېښودل.

۹- د ذکر او دعا ډېر په چغو چغو لوستل که نور څوک داسې کار کوي هغه ته بد رد ویل نه دی په کار بلکی خپله ورڅخه پرهیزکول .

**مسائل :**

**مسئله :** د هجوم او ازدحام په وخت کې به یوازې په لاس سره استلام کوئ ځکه د حجر اسود مسحه او مچي کول سنت خو خلکو ته ضرر رسول او د خلکو تله کول حرام دي .

**مسئله :** په مکروه وخت کې د طواف دوه رکعته لمونځ کول زمونږ په نزد مکروه دي مثلاً کچېرې د مازدیګر وروسته طواف وشي نو د طواف لمونځ د ماښام د لمانځه څخه وروسته ادا کوئ .

**مسئله :** که چا قصداً په طواف کې اتم شوط وکړ نو هغه به شپږ شوطونه نور کوي ځکه په هغه باندې مکمل طواف واجب شو نو په دې توګه به هغه دوه طوافه ادا کړي وي .

**پوښتنه :** که څوک د طواف په حالت کې بې اودسه شي ؟

ځواب : د طواف د پاره طهارت شرط دی بې اودسه طواف نه صحي کیږي ، که چیرې د طواف په حالت کې سړی بې اودسه شي هغه به اودس وکړي او د طواف پاتې شوطونه (دورې ) به پوره کړي .

جاء فی الموسوعة الفقهیة :

"الطهارة شرط لصحة الطواف عند جمهور العلماء ، واختلفوا فيما إذا أحدث في الطواف ثم توضأ هل يكمل الأشواط أم يستأنف الطواف على قولين ، فذهب الحنفية والشافعية إلى أنه يبني على طوافه ، وذهب المالكية والحنابلة إلى أنه يستأنف الطواف من أوله "[1] .

[1] – الموسوعة الفقهية (۲۹/ ۱۳۱).

او د مغذور کس ( چې باد ، بول او میتیازې ) یې جایري وي د طواف کولو حکم د لمانځه د حکم په شان دی چې د هر وخت د پاره به جلا اودس کوي ، کله چې د یوه لمانځه وخت ختم شي نو د هغه طهارت هم ختم دی .

وسئلت اللجنة الدائمة عن رجل به سلس بالبول كيف يتطهر للصلاة والطواف ؟

فأجابت :

إذا كان الواقع كما ذكرتم فلا حرج عليك في الصلاة والطواف ولو خرج منك بول مادام خروجه مستمراً لأنك في حكم أصحاب السلس وعليك أن تستنجي إذا دخل كل وقت ثم تتوضأ وضوء الصلاة ولا يضرك بعد ذلك ما خرج منك إلى الوقت الآخر[١] .

لکن د پمپر اچولو په باره کې مې د فقهاء کرامو رایه پیدا نه کړه ، ان شآء الله د ضرورت پر مهال به باک نه لري .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

**که ښځه په حج کې حائضه شي څه به کوي ؟**

ځواب : په دې باندې د ټولو فقهاء اتفاق دی چې حائضه ښځه به طواف نه ادا کوي په دلیل د دغه حدیث شریف : چې کله عائشه رضی الله عنها د حج په موقع کې حائضه شوه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته وفرمایل :«فَاقْضِي ما يَقْضِي الحَاجُّ، غيرَ أنْ لا تَطُوفِي بالبَيْتِ»[٢] .

ژباړه : پس د حج نور مناسک ادا کړه کوم چې نور حاجیان یې ادا کوي ، بغیر له طواف څخه طواف به نه ادا کوې مګر کله چې پاکه شې او غسل وکړې .

---

[١] - فتاوى اللجنة الدائمة ( ٥ / ٤٠٨ ).

[٢] - أخرجه البخاري (294) واللفظ له، ومسلم (1211).

نو د جمهورو فقهاء په نزد کومه ښځه چې د طواف افاضه یا طواف رکن نه وروسته حائضه شي طواف یې صحي دی طواف وداع ساقطیږي مګر که د طواف افاضه یا طواف رکن نه مخکې حائضه شي هغه به تر هغه پورې په مکه کې پاتې کیږي څو پاکه شي او غسل به وکړي او وروسته به طواف کوي .

مګر که په مکه کې پاتې کیدل مشکل وي معاصرو فقهاء کرامو یې حل داسې ښودلی دی :

حائضه ښځه به غسل کوي او توبه یا پمپر به اچوي په همدې حالت کې به طواف ادا کړي سعې به وکړي دا قول د احنافو او حنابله دی .

څرنګه چې د احنافو په نزد د طواف د پاره طهارت واجب دی شرط نه دی نو په دغه ښځه به دم لازم شي .

**المناسک الحج بالمملكة العربية السعودية لیکي :**

القول الثالث: وهو الراجح والله أعلم، أنها تغتسل وتتحفظ حفاظاً محكماً ، وتتحرز مما يلوث المسجد، وتطوف على حالها. وتسعى بين الصفا والمروة إن لم تكن قد سعت. وهذا قول الأحناف والحنابلة. واختيار شيخ الإسلام وابن باز وابن عثيمين وغيرهم. ولكن هل يلزمها شيء بذلك؟

عند الأحناف يلزمها بدنة، إذ إن الطهارة للطواف ليست شرطاً بل هي واجبة، فمن طاف محدثاً أجزأه، وعليه بدنة للجنابة ، وشاة للحدث الأصغر.

**همدارنګه علماء قطر مرکز الفتاوي اسلام ويب لیکي :**

فالطهارة شرط في صحة الطواف في مذهب جمهور العلماء، وذهب الحنفية وهو رواية عن أحمد إلى أنها واجبة وليست بشرط ، وأن من طاف على غير طهارة فإن عليه الدم.

وقد تقدمت التفاصيل في الفتاوى التالية:

وعليه؛ فالأحوط للأخت السائلة أن تذهب إلى مكة فتطوف وتسعى وتتحلل، فإن تعذر ذلك أو تعسر فعليها دم يذبح في مكة ويوزع على فقراء الحرم، مع الإشارة إلى أنه لا يجوز للحائض أن تمكث في المسجد، فعليك التوبة وعدم العودة لمثل لذلك.

و الله سبحانه وتعالى اعلم

## په عرفات دریدل

عرفات د حج دریم فرض دی چې یوائې یوه تاکل شوی ورځ لري که له تاکل شوي ورځې تأخیر شي نو حج له سره نه صحیح کیږي .

د عرفات وخت د نهم تاریخ له ماسپخین شروع د لسم تاریخ توله شپه پورې په هر وخت کې چې قیام وشي فرض ادا کیږي .

**د عرفات سنته طریقه او آداب :**

غوره دا ده چې د صبا لمونځ په منا کې وشي او د لمر ختلو وروسته عرفات ته روان شي هلته خپل موقعیت ته ځان ورسوي تر زواله پوری اودس ،غسل وکړي بیا هلته امام د جمعی په شان دوي خطبی لولي چې د هغی په غور اوریدل ضرور دي بیا به د امام سره د ماسپخین او ماذدیگر دواړه لمونځونه یوځل وکړي ،کچیري لمونځ ځانته وشي نو بیا یې یوځای کول صحي نه دي .

وروسته امام د موقوف په لورې روانیږی چې باید ټول خلک په امام پسی لاړشي دا ځای جبل رحمت ته نږیدی دی کوم ځای کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په آخری حج کې دعا کړي ده .

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي په دې ورځ شیطان تر بلی هري ورځې نه زیات ذلت او خواريویني ځکه چې د بندګانو لوی ګناهونه معاف کیږي .

نبی اکرم صلی الله علیه وسلم چې د عرفات په جبل الرحمت باندې کومه ژړا او زاری باندې دعا غوښتی وه ابن عباس رضی الله عنه یې داسې روایت کوي :

چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په عرفات کې داسې په دعا ولیدلو چې دواړه لاسونه یې د سینی سره خواره کړي وو او داسې دعا یې غوښتله لکه چه یو وږي مسکین په عاجزی سره د چا نه یوه لمړی ډوډی غواړي او هغوی صلی الله علیه وسلم د امت د بخښنې لپاره دعا کوله .


## په مقام ابراهیم کې لمونځ او د صفا مروه ترمنځ سعی

### په مقام ابراهیم کې لمونځ :

د طواف له اداکولو وروسته به مقام ابراهیم ته لاړشي او دوه رکعته لمونځ به وکړي بیا به ملتزم ته لاړشي هلته به په عاجزئ سره دعا وکړي بیا به زمزم ته لاړ شي په ولاړه به په دریو ساه د هغه اوبه وڅښي .

### سعی :

سعی په لغت کې کوښښ کول،منډې وهلو او په اهتمام سره تللو ته وایې او په اصطلاح کې د سعی نه مراد د حج هغه واجب عمل دی چې په هغی کې حاجیان د صفا او مروه په نومونو دوه غونډیو ترمنځ سعی کوي نن سبا د دغه غونډیو څه معمولي شانته نښې پاتی دي چې اوس یې پر ځای دوه ځلی د میلین الاحضرین په نوم جوړکړي لومړی صفا ته خیږي دعا به کوي هر کله چې لومړي میل ته ورسیږي نو په معمولی رفتار سره به منډی شروع کړي ډیر تیز به نه زغلي او نه به نورو ته تکلیف رسوي هرکله چې دوهم میل ته ورسیږي منډی به ودروي او عادی تګ سره به مروه ته وخیږی دعا به وکړي چې په دې سره یوځل پوره شو په همدې ډول به اوه کرته پوره کړي .




**د سعی واجبات :**

۱- د صفا څخه سعی شروع کول او په مروه یې پای ته رسول .

۲- سعی په پیاده تلو سره .

۳- د صفا او مروه ترمنځ څلور ځله یا ترهغه زیاتی پیرې کول واجب او اووه ځله پوره کول (سنت ) دي .

۴- سعی د طواف نه پس ادا کول.

۵- سعی په اوداسه سره ادا کول.

د واجبو په ترک سره یو قرباني لازمیږي .

**مکروهات :**

د اوه ځله نه کم مکروه دی.

۲- د میلین احضرین په منځ کې تیز نه تلل.

۳ - په صفا او مروه باندې نه ختل .

۵- د طواف وروسته بغیر له عذر څخه د سعی ځنډول .

۶- سعی د نحر تر ورځې ځنډول.

۷- د سعی د ګشتونو په مینځ کې ډیره فاصله او ځنډ کول .

۸- په سعی کې خرچول او اخیستل چې د زړه حضور مشغول کړي .

**ضروري مسائل:**

۱ -کچېرې د سعي پر مهال جماعت ودریږي نو سعی به پرېږدي د جماعت لپاره به په صف کې ودریږي د لمانځه د ادا وروسته به پاتې شوطونه (ګردشونه) پوره کړي.

۲ -کچېرې چا د مروا له لورې سعی پیل کړه نو دا شوط يې لغوه دی، نه حسابیږي، د صفا له لورې به سعی پیل کړي.

۳ -د سعی کولو پر مهال ذکر او دعا کول مستحب دي، خرڅول او اخیستل، د بل سره درېدل او خبرې کول نه ښايي. کچرې لږ وي ضرر نه لري او که نه داسې کول مکروه دي او که ډیر وي، سعی به له سره ادا کړي.

لا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَبِيعَ أَوْ يَشْتَرِيَ أَوْ يَقِفَ مَعَ أَحَدٍ وَيُحَدِّثَهُ، فَإِنْ فَعَلَ وَكَانَ خَفِيفًا لَمْ يَضُرَّ وَإِنْ كَانَ مَكْرُوهًا، فَإِنْ كَثُرَ ابْتَدَأَ السَّعْيَ مِنْ جَدِيدٍ[1] .

[1] – الموسوعة الفقهية ج ۲۵ ص ۲۲.

# د جمرو ویشتل

**په مزدلفه کې :**

د عرفې په ورځ کله چې لمر ولوېږي ماښام شي حجاج کرام به د مزدلفې په لوري روان شي په لاره کې به تلبِیَه ، تهلیل او تکبیر وایي.

په مزدلفه کې شپه تیرول سنت او وقوف واجب دی که څه هم یوه لحظه وي د وقوف وخت د صباح ختلو یا صبح صادق څخه تر لمر ختلو پورې دی.

مزدلفه د بطن مُحَسِّر پرته ټول د وقوف ځای دی مګر د قُزَح غره سره چې اوس مهال هلته جومات جوړ شوی دی نږدې درېدل افضل دي او د امام سره د ماښام او ماسختن لمونځ یو ځای ادا کول.

**په مزدلفه کې سنت او مستحب کارونه :**

۱ -غسل کول مګر که اوبه پیدا نشي د تیمم وهل جایز دي.

۲ -د دوو لمونځونو (ماښام او ماسختن ) یو ځای کول او دواړه د ماسختن د لمانځه په وخت کې ادا کول.

۳ -ددې شپې سبا کول په عبادت سره لکه : نفلي لمونځونه ، د قرآن تلاوت ، ذکر او دعا کول او حد اقل د شپې آخرې حصه په عبادت سبا کول.

۴ -د نیمې شپې وروسته د جمرو ویشتلو لپاره (۷۰) دانې شګو ټولول ، چې د نخود د دانې په اندازه به وي ،تر هغه لویې مکروه دي او همدانګه ماتول یې مکروه دي.

۵ -په مشعر الحرام کې وقوف کول او د امکان په صورت کې د جومات سره وقوف کول ځکه جناب رسول الله علیه وسلم چې په کوم ځای باندې وقوف کړی هلته اوس مهال جومات جوړ شوی دی، مګر که تکلیف او ازدحام وي د هغه څنګ یا د مزدلفې په هر ځای کې درېدل پکار دي.

۶ -د سهار لمونځ په اول وخت کې ادا کول ، او د سهار مسنونه اذکار لوستل.

۷ -د سهار د لمانځه وروسته تر لمر ختلو پورې د مشعر الحرام سره مخامخ قبلې ته درېدل او وقوف کول ، تحمید ، تهلیل ، تلبیه او دعا کول.

ځکه چې الله سبحانه وتعالی په دغه مقام کې د ذکر کولو حکم کړی دی:

[فَإِذَا أَفَضْتُم مِّنْ عَرَفَاتٍ فَاذْكُرُواْ اللّهَ عِندَ الْمَشْعَرِ الْحَرَامِ وَاذْكُرُوهُ كَمَا هَدَاكُمْ وَإِن كُنتُم مِّن قَبْلِهِ لَمِنَ الضَّآلِّينَ ، ثُمَّ أَفِيضُواْ مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ وَاسْتَغْفِرُواْ اللّهَ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ][1] .

ژباړه: او کله چې د عرفات څخه را ښکته شوئ نو په مشعر الحرام کې الله پاک په همغه شان یاد کړئ چې څنګه یې تاسې ښوونه کړې ده که څه هم تاسې له دې وړاندې بې لارې واست ، بیا د نورو خلکو په شان راښکته او له الله څخه بښنه وغواړئ بې شکه چې الله پاک بښونکی مهربان دی.

حجاج کرام به د جمراتو تر پیل کولو پورې د تکبیر او تلبِیَه شعارونه ورکوي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دا عمل کړی دی.

۸ -د لمر ختلو مخکې د ضعیفو ښځو او نورو انتقال جمراتو ته جایر دی.

۹ -د مُحسِر په وادي کې تیز تلل پکار دي کچېرې پیاده وي او همداسې له دې ځای نه د سورلۍ تیز تیرېدل سنت دي.

۱۰ -د مزدلفې څخه به په پوره آرام او سکون سره د منی په لورې تلل ، له بېړې ، تیز تګ او نورو ته مزاحمت رسولو به ډه ډه کول.

[1] – سوره البقره :۱۹۸–۱۹۹ .

ځکه چې په حج کې نورو ته ضرر رسول ، بې حوصله کېدل او جنجال نشته.

الله سبحانه وتعالی فرمايي : [فَلاَ رَفَثَ وَلاَ فُسُوقَ وَلاَ جِدَالَ فِي الْحَجِّ] .

ژباړه : په حج کې د میرمنو سره جماع یا د جماع خبرې ، او ګناهونه او شخړې او جنجال کول نشته.

**بیا منی ته راتګ :** د مزدلفی نه به په لسم تاریخ د لمر ختلو مخکې منی ته روان شي او له ځانه سره به د مزدلفی دجمرو لپاره ډبرې اخلي .

**د جمره عقبه رمی :**

رمی په لغت کې غورزولو او نښی ویشتلو ته وایې او په اصطلاح کې له رمی نه مراد د حج هغه عمل دی چې حاجی د ډبرو په وسیله دری ځلي ولي ،جمرات د جمرو جمع ده جمره ګیټی ته وایی .

د مزدلفی نه چې راشي نو د جمره عقبه رمی به وکړي تنها د عقبه رمی په همدې ورځ کول پکار دي نور دوه رمی په دې ورځ نه کیږي .

**د تلبیه موقوف کیدل یا دریدل :** تلبیه چې د احرام له وخته شروع وه د رمی نه مخکی به یې موقوف کړي .

**قرباني ،حلق اوتقصیر:** د رمی نه پس به قرباني وکړي د هغه نه پس به حلق ،تقصیر یا د سرخریل یا د ویښتانو کمول وکړي د ښځو لپاره د ویښتو کټ کول نشته .

## قرباني

قرباني همغه د ابراهیم علیه سلام د سترې قربانۍ یادګار دی کوم چه الله (جل جلاله) ابراهیم علیه سلام ته د خپل خوږ اولاد د قربانی حکم کوي پلار او زوی دواړه د خدای (جل جلاله) حکم پرځای کوي.

قوله تعالى: [فَلَمَّا بَلَغَ مَعَهُ السَّعْيَ قَالَ يَا بُنَيَّ إِنِّي أَرَى فِي الْمَنَامِ أَنِّي أَذْبَحُكَ فَانظُرْ مَاذَا تَرَى قَالَ يَا أَبَتِ افْعَلْ مَا تُؤْمَرُ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّابِرِينَ][1] .

ژباړه :هغه هلک چه کله د هغه سره د منډو تړړو سن ته ورسید ،نو ابراهیم علیه سلام هغه ته وویل زویه ! زه په خوب کی وینم چه ستا زبح کوم ،اوس ته وwایه چه ستا څه نظر دی ،هغه وویل پلار جانه ! د هغه څه چه ستا ته حکم کیږی ترسره کړه ته به ان شآء الله ما له صابرانو څخه ومومی.

اسماعیل علیه سلام دغه وخت لا بلوغ ته نه ؤ رسیدلی خو د مور او پلار سره د منډو او کومک سن ته رسیدلی ؤ.

اصلاً د الله پاک د اسماعیل ذبح کول هدف نه ؤ بلکی په ابراهیم علیه سلام یی دا امتحان وکړ چه آیا دی د خپل خوږ اولاد قربانی ته هم تیار دی ؟ چه بلاخره په دې امتحان کی ابراهیم علیه السلام بریالی شو د خپل زوی پرځای یی څاروی قربانی کړ.

نو دا زمونږ قربانی همهغه د ابراهیم علیه سلام د سترې قربانی سنت دي.

ددې قربانۍ څخه اصلی موخه اخلاص دی ،خدای (جل جلاله) ته د قربانۍ غوښه نه رسي بلکی نیت او اخلاص ورته رسیږي.

**د کومو څارویو قربانی کول ضروردي:**

پسه ،سریلی ،غویی،میښه او اوښ دا پنځه ډوله څاروی که نر وي او که ښځه قربانی یی جائزه ده.په ګډه اوخړلی کی یواځی یو نفر او په غوا،میښه او اوښ کې اوه کسان شریک کیدلی شي. د ګډې او وزګوړ یا سریلي عمر به یو کال یا ترهغه زیات وي ،خو که د یوکال نه کم وي او په جسامت

[1] - سوره الصافات :۱۰۲ .

او صورت کې د یوکلن په شان معلومیږي بیا هم جایز دی.

غوا به دوه کاله یا تردوه کاله زیاته وي اوښ د پنځو کالو یا تر هغه زیات وي.

**د قربانی کولو طریقه:**

د قربانی څاروی به داسې څملوي چه مخ یې قبلې طرف ته وي او دا دوعا دې ووایې:

اِنِّی وَجَّہْتُ وَجْہِیَ لِلَّذِیْ فَطَرَ السَّموتِ وَالاَرْضَ حَنِفًاوَّمَآاَنَامِنَ الْمُشْرِکِیْنَ اِنَّ صَلوتِی وَنُسُکِی وَمَحْیَایَ وَمَمَاتِی لِلہِ رَبِّ الْعلَمِینَ لاَشَرِیْکَ لَہ وَبِذالِکَ اُمِرْتُ وَاَنَامِنَ الْمُسْلِمِیْنَ اَللہُمَّ مِنْکَ وَلَکَ.

ژباړه : ما خپله توجه له هرطرف نه کټ کړی ده د هغه ذات طرفته را ګرځیدلی یم چه آسمانونه اوځمکی یی پیدا کړی دي او زه د مشرکانو نه نه یم ،زما لمونځ ،زما حج او ټول عبادتونه او زما ژوند او زما مرګ ټول د الله د پاره دي ،چه هغه د ټول جهان مالک دی او د هغه څوک شریک نشته ،ماته ددې حکم شوی دی او زه فرمانبردار یم ،ای الله ! دا هرڅه ستا ورکړه ده اوستا د پاره ده.

قرباني پخپل کول افضل او د قربانۍ د پاره وکیل هم نیولای شي .

## حلق او تقصیر

د قربانۍ وروسته به سر وخریئ او یا به خپل ویښتان کم کړي .

په عمره کې د صفا او مروه تر مینځ سعې نه وروسته او په حج کې د قربانۍ کولو وروسته د سر خریل یا د ویښتانو لنډول دي .

د ویښتانو لنډول او خریل دواړه صحي دي لکن په حج کې د ویښتانو خریل افضل دی ، مګر ویښتان به د یوي ګوتې د بند په اندازه کمیږي که ویښتان د یوې ګوتې د اندازې څخه کم وي نو بیا یې خریل واجب دي[1] .

[1] – معلم الحجاج ص ۲۱۹ – معین الحجاج ص ۲۹۲ .

که حلق د حرم د حدودو نه بهر وشي نو ددې غلطۍ په وجه یوه قرباني لازمیږي همدارنګه د قرباني د لسم ،یوولسم او دولسم نه په وروسته کولو سره یوه قربانی لارمیږي .

**ضروري یادونې :**

د احنافو په نزد واجب ده چې د یوې ګوتې یا د ګوتې د بند په اندازه ویښتان کم شي کچېرې ویښتان دومره کوچني وي چې د ګوتې د بند په اندازه نه کمیږي نو خریل یې واجب دي او کچېرې سر مخکې خریل شوی وي نو په هغه باندې د پاکي کش کول لازم دي.

جاء في فقه الاسلامي و ادلته :

وأوجب الحنفية ما يزيد على قدر الأنملة، حتى يحقق التقصير من جميع الشعر، ويتيقن من استيفاء قدر الواجب، فيخرج عن العهدة بيقين.

د نارینه د پاره د ویښتانو تر کمولو خریل غوره دي په دلیل د دغه حدیث شریف:

ابن عمر رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي »اللهم ارحم المحلقين. قال في الرابعة: والمقصرين» [۱] .

یعني: ای الله ! په سر خریوونکو رحم وکړې درى ځله یې دا دعا وکړه په څلورم ځل یې وویل: ای الله په ویښتانو کمونکو رحم وکړې.

او د ښځې د پاره یوازې د یوې ګوتې د بند په اندازه د ویښتانو کمول دي په دلیل د دغه حدیث شریف: «ليس على النساء حلق، وإنما عليهن التقصير» [۲] .

یعني: په ښځو باندې د سر خریل نشته بلکې هغوی لره د ویښتانو کمول دي.

که چیرته څوک د ویښتانو د کمزورتیا مشکل ولري او دا ویره ورسره وي که چېرته سر وخریي بیا به را شنه نشي نو د عمرې او حج په مراسمو که به څومره ویښتان کټ کوي او یا یې هیڅ کټ نه کړي که په دې باره معلومات راکړئ ؟

۱ – حديث متفق عليه .

۲ – رواه ابؤداود وبيهقي .

**ځواب:**

**اول** –حلق (د سر خريل )، تقصير ( د ويښتانو کمول ) واجب دي د احرام څخه د وتلو شرط دی.

خريل يا د ويښتانو کمول دواړه صحي دي مګر د سر خريل افضل او غوره دي.

أن الحلق أو التقصير, واجب, لكن الحلق أفضل؛ لأنه روي أن رسول الله صلى الله عليه وسلم "دعا للمحلقين ثلاثا, وللمقصرين مرة واحدة فقال: اللهم اغفر للمحلقين, فقيل له: والمقصرين, فقال: اللهم اغفر للمحلقين[1] .

**دويم** –د ويښتانو د کمولو اندازه به د ګوتې د بند په اندازه وي که تر هغه کم وي نو خريل يې واجب دي او که سر مخکې خريل شوی وي او يا د چا ويښتان نه وي هغه به يوازې پاکي وربانديې کشوي.

وَحَلْقُ الْكُلِّ أَوْلَى اقْتِدَاءً بِرَسُولِ اللَّهِ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ –وَالتَّقْصِيرُ أَنْ يَأْخُذَ الرَّجُلُ أَوْ الْمَرْأَةُ مِنْ رُءُوسِ شَعْرِ رُبُعِ الرَّأْسِ مِقْدَارَ الْأُنْمُلَةِ ؛ وَلِأَنَّ الْحَلْقَ مِنْ أَسْبَابِ التَّحَلُّلِ وَكَذَا الذَّبْحُ عِنْدَنَا فِي حَقِّ الْمُحْصِرِ فَيُقَدِّمُ الرَّمْيَ عَلَيْهِمَا وَالذَّبْحُ لَيْسَ بِمُحَلِّلٍ عَلَى سَبِيلِ الْعُمُومِ وَلَا مِنْ مَحْظُورَاتِ الْإِحْرَامِ فَيُقَدَّمُ عَلَى الْحَلْقِ لِيَقَعَ فِي الْإِحْرَامِ وَيَجِبُ إجْرَاءُ مُوسَى عَلَى الْأَقْرَعِ عَلَى الْمُخْتَارِ وَلَوْ كَانَ عَلَى رَأْسِهِ قُرُوحٌ لَا يُمْكِنُ إمْرَارُ[2] .

**دريم** –که څوک معذور وي، په يقيني توګه د سر خريل ورته ضرر رسوي هغه دې ويښتان کم کړي، کچېرې د ويښتانو د کمولو اندازه موجود نه وي او يا خو حلق او تقصير دواړه امکان نلري نو هغه به فديه ورکړي.

د کعب بن عُجْرَةَ رضی الله عنه قصه مشهوره ده چې هغه د مرض له کبله سر نه وو خريلی او جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته د فديه ورکولو حکم کړی وو چې په حق کې يې لاندې آيت کريمه نازل شوی دی.

---

[1] – بدائع الصنائع .

[2] – تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق ١٥/٢.

[وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ فَإِنْ أُحْصِرْتُمْ فَمَا اسْتَيْسَرَ مِنَ الْهَدْيِ وَلَا تَحْلِقُوا رُءُوسَكُمْ حَتَّى يَبْلُغَ الْهَدْيُ مَحِلَّهُ فَمَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَرِيضًا أَوْ بِهِ أَذًى مِنْ رَأْسِهِ فَفِدْيَةٌ مِنْ صِيَامٍ أَوْ صَدَقَةٍ أَوْ نُسُكٍ] [1].

فديه درى شيان دي:

د حرم په پولو کې د پسه ذبحه او صدقه کول.

په حرم کې درى ورځې روژه نيول.

شپيتو مسکينانو ته نيم صاع غنم ورکول.

## طواف زيارت

دا طواف فرض دى که په لسم تاريخ پاتې شي په يولسم او دولسم هم ادا کيږي په دې طواف کې به هم په ملتزم کې دعا وکړي د حجراسود استلام کول،او په مقام ابراهيم کې دوه رکعته لمونځ کول که په طواف قدوم کې يې رمل اوسعى کړي وي نو اوس به يې نه ادا کوي او که هغه وخت پاتې وي نو اوس به يې ادا کوي .

## د دريو واړو جمرو رمى

په يولسم او دولسم ورځو کې به د دريو واړو جمرو کول له لومړى جمره اولى بيا جمره وسطى بيا جمره عقبه رمى به وکړي هر يو به اوه اوه کانړي ولي د کانړو د غورزولو سره به تکبير وايي .

**د رمى مکروهات :**

١- پليت کانړى کارول.

٢- د جمرو له خوا څخه کانړى اخيستل.

٣- د اوو کانړو نه زيات غورزول .

۴- تاخير کول مکروه دي يعنى د جمرو ويشتل به په مسلسل ډول وي.

[1] – سوره البقره :۱۹۶ .

۵- د رمی په وخت کې تکبیر پرېښودل .

## طواف وداع یا طواف صدر

په دولسم تاریخ د لمر پرېوتلو مخکې به له منی نه مکی ته لاړشي په لاره کې به په وادئ مُحصت کې د څه وخت لپاره کوز شي دلته کوزېدل سنت دي دعا به وکړي ښه دا ده چې د ماسختن لمونځ هم دلته وکړي بیا به مکې ته راشي په مکه کې چې هرڅو پورې یې خوښه وي پاتی کېدای شي کله چې له مکی نه رخصتېږي نو طواف وداع به کوي دا د خدای په امانی ورستی طواف دی .

## د حج ارکان ،واجبات او سنتونه

**الف : د حج ارکان :**

هغه افعال دي چه که له حاجی څخه پاتې شي نو حج یې نه صحیح کیږي اوهغه دری دی

1- په عرفات درېدل (د حج رکن ) .

۲- طواف زیارت یا افاضه ( د حج رکن ) .

۳- احرام (شرط ) .

**د حج واجبات[۱] :**

۱- سعی د صفا څخه شروع کول او په مروی پای ته رسول .

۲- په مزدلفه کې دریدل که څه هم یوه شیبه وي .

۳- حلق او تقصیر ( د ویښتان خریل یا لنډول ) .

۴- د جمرو ویشل .

۵- طواف صدر کول

۱ – فقه الاسلامي وادلته ، البدائع: 2/125 ) .

**د حج د مناسکو نور واجبات :**

۶- له مقیاتو څخه احرام تړل .

۷- د طواف نه ورسته دوه رکعته لمونځ کول .

۸- په اوداسه سره طواف کول .

۹- د حجرالاسود نه په طواف پیل کول .

۱۰- د بیت الله او حطیم په چاپیر طواف کول .

۱۱- په طواف کې بل چاته زحمت نه رسول .

۱۲- په سعی کې اوه کردشه پوره کول .

۱۳- د عرفې د ورځې د زوال نه ورسته تر ماښام پورې په عرفات ودریدل .

۱۴- د اختر په اوله ورځ قرباني کول (د څاروي حلالول) اول ذبح بیا د ویښتانو خریل

۱۵- د صفا او مروی د سعی کولو لپاره نیت کول .

که له حاجی څخه کوم واجب عمل ترک شي نو دم (د څاروي ذبحه کول ) پری لازمیږي که یې دا په توان کې نه وي یعنی اقتصادی توان ونه لري نو لس روژی به نیسی دری ورځې په مکه کې او پاتی چې کله کور ته ورسیږي .

**د حج سنتونه :**

۱- د احرام تړلو لپاره غسل .

۲- طوا قدوم کول .

۳- د احرام تړلو په وخت کې خوشبويي استعمالول.

٤- تلبیه ویل .

٥- په هغه طواف کې د پهلوانۍ پیښې کول چه وروسته ترې د صفا او مروې سعی کیږي .

٦- په طواف کې په لومړیو دریو شوطونو کې د پهلوانۍ پیښی کول یعنې رمل کول .

٧- د طواف کول .

٨- د طواف ګردشونه .

٩- د طواف ګردشونه په پرله پسې توګه سرته رسول .

١٠- د سعی ګردشونه په پرله پسی ډول کول .

١١- د عرفات لپاره په منا کې شپه کول .

١٢- په عرفات کې د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه یو ځای د ماسپښین په وخت په جماعت ادا کول .

١٣- تر عرفات وروسته په مزدیفه کې شپه کول

١٤- په عرفات کې د صخري (ډبرین ځای )سره ودریدل .

## په حج کې جنایات

په حج کې جنایات عبارت دي له : په حج کې د منع کړي عمل ارتکاب او یا د واجباتو ترک کول .

**جنایات په دوه ډوله دي :**

١- د حرم جنایات

٢- د احرام جنایات .

**د حرم جنایات :**

١- د حرم جنایات دا دي چې څوک په حرم کې یا خپله او یا د بل په اشاره ښکار وکړي ، یا د حرم ونې او بوټې پرې کړي فرق نه کوي دا کس محرم یا غیر محرم وي دا عمل جرم دی او جنایت بلل کیږي .

**۲- په احرام کې جنايات :** په احرام جنايت دا دی چې محرم کس د احرام په حال کې د حج د ممنوعاتو مرتکب شي او يا هم د حج واجبات ترک کړي .

**د احرام په حالت کې جنايت پر شپږ قسمه دی :**

**اول :** هغه جنايت چې حج فاسدوي او په جرمانه سره نه جبران کيږي لکه : په عرفات باندې د وقوف څخه مخکې جماع کول .

**دوهم :** هغه جنايت دی چې جرمانه يې يو غوايی يا يو اوښ دی چې عبارت له :

الف ) : په عرفات باندې د دريدو وروسته او د سر خريلو څخه مخکې جماع کول .

ب ) : د جنابت په حالت د زيارت طواف ادا کول .

**دريم :** هغه جنايت چې جرمانه يې يو پسه او يا د اوښ يا غوايي اومه برخه ده چې عبارت له :

۱- بغير له عذر څخه ګنډلي جامې اغوستل .

۲- بغير له کوم غذر د ږيرې او سر د ويښتانو لرې کول .

۳- د يوې پوره ورځې په موده د مخ پټول .

٤- د يوه لاس او يا يوې پښې د نوکانو پرې کول .

٥- د صدر د طواف ترک کول .

٦- د جماع د تحريک شهوت پارونکې خبرې .

۷- د بدن په کوم کامل غړي باندې خوشبويي وهل لکه : سر ، مخ ، پنډۍ او همدانګه د داسې جامې اغوستل چې په هغه باندې خوشبويي وهل شوی وي .

**څلورم :** هغه جنايت چې جريمه يې صدقه ده ، چې نيم صاع غنم يا د هغه قيمت دی چې عبارت له :

۱- د څلورمې برخې څخه کم د سر يا ږيري د ويښتانو خريل .

۲- د یوې یا دوو ګوتو د نوکانو پرې کول

۳- د بدن د یوه غړي نه کمه حصه باندې خوشبويي وهل .

۴- د یوې کاملې ورځې نه کمه موده د ګنډلي جامې اغوستل .

۵- د یوې ورځې نه کم د سر یا مخ پټول .

۶- د بې اودسۍ په حالت کې د طواف قدوم او طواف صدر ادا کول .

۷- د رمی د یوې شګې ترک کول .

**پنځم** : هغه جنایت چې جرمانه د نیم صاع څخه کمه ده چې عبارت له : د احرام په حالت کې د سپږې او ملخ وژل .

**شپږم** : هغه جنایت چې جرمانه د هغه د قیمت ادا کول دي چې عبارت له : که چا په حرم کې ښکار وکړ د هغه حیوان بې ووژلو او یا یې د هغه په وژلو کې ګډون وکړ نو د همغه ښکار او وژل شوي حیوان قیمت به ورکوي که هغه حلال وي یا مردار .

او د حج له واجباتو څخه د یو شي پرېښودل باندې دم ( پسه یا څیرلی او یا د اوښ او غوایی اومه برخه ) لازمیږي [۱] .

و الله سبحانه وتعالی اعلم.

[۱] – فقه حنفي مُیسر ، فقه اسلامي ، حکمت احکام او اسرار حج .

## پنځم فصل

### د مدينې منورې زيارت

په مدينه منوره کې د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د جومات زيارت کول که څه هم د حج له ارکانو او مناسکو څخه نه دي ، لکن که څوک قصداً ددې سعادتونو څخه محروم شي نو د هغه په باره کې به بې مبالغې دا ويل صحي وي چې د آب حيات غاړې ته رسيدلی وو خو بيا هم د آباد ژوند نه محروم راغی ځکه که غور وکړو مونږ ته د اسلام دا ستر نعمت او دولت د دنيا او آخرت ټولې نيکمرغی د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم په برکت سره په برخه شوي دي د اسلام رسولو په لاره همغه د هغوی صلی الله عليه وسلم او يارانو يې بې حده تکليفونه ، لوږې ، بدني او مالي قربانو ګالل وو چې نن مونږ د اسلام د ستر نعمت څخه برخمن يو .

اګر چې ظاهراً د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم جسد مبارک د خاورو په پرده کې پټ دی لکن معنوي شتون يې بالکل حس کيدای شي ته چې هلته لاړ شي د ده مبارک د ناستې ځای ، اوسيدو ځای ، د لمانځه ځای د وحی مقام او د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د هجرت د ديار ټولې کارنامې به ذره ذره ستا مخ کې ياديږي .

ددې موضوع په رابطه د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره د مغاذ بن جبل ورستئ خدای په آماني ذکر کوو :

د مغاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دی رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه کله يمن ته د قاضي په حيث ليږلو (دهغه د رخصتولو په وخت کې ) رسول الله صلی الله عليه وسلم هم له هغه سره د څه وصيتونو فرمايلو د پاره د هغه سره روان شو چې مغاذ په سورلی سور ؤ او نبی کريم صلی الله عليه وسلم د سورلی سره لاندې پياده روان ؤ . کله چې هغه د نصيحت او وصيت کولو فارغ شو وېې وفرمايل : ای معاذه ! شايد زما د ژوند ددې کال پس بيا زما اوستا ملاقات ونه شي (او ته چې کله

د یمن نه پس راشي نو ته به په دې مدینه کې زما سره د ملاقات پر ځای) زما په جومات او قبر تیر شي . معاذ چې دا وارویدل نو د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات فکر یې وکړ او دهغه د فراق له وجې په ژړا شو ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه د طرف نه مخ د مدینې طرف ته کړ او بیا یې وفرمایل : زما سره ډیر نږدې هغه خلک دي کوم چې د خدای جل جلاله څخه ویریږي او د تقوی ژوند تیروي هغه چې هر څوک وي او هر چیرې وي . (رواه امام احمد ) .

**د مسجد نبوي فضیلت :**

د مسجد نبوي بنسټ خپله د رسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا ایښودل شوی دی او دا جومات خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه یارانو رضی الله عنهم په لاسونو جوړ شوی دی ، د مسجد نبوی د فضیلت په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

«صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هَذَا أَفْضَلُ مِنْ أَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاهُ إِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ»[1] .

یعنې زما په جومات (مسجد نبوی کې ) لمونځ کول د نورو تمامو جماعتونو د زرو لمونځونه بهتره دی (سوا د مسجد الحرام ) نه

**د مسجد نبي د زیارت کولو آداب :**

د مدینې منورې ښار ته به په پوره محبت ، شوق او ذوق سره ننوځې پخپل اتاق کې خپل سامان ځای پر ځای کړئ که غسل وکړئ ښه به وي او که نه اودس به وکړئ ، مسواک به ووهئ کله چې د مسجد نبی دروازې ته ورسیدی درود او سلام به ووایئ ، د ننوتلو پر مهال به ښی پښه مخکې کړی او دا دعا به ووایئ : [بسم الله والصلاة والسلام علی رسول الله ، اعوذ بالله العظیم وبوجهه الکریم ، وسلطانه القدیم ، من الشیطان الرجیم، اللهم افتح لی ابواب رحمتك]

او یا یوازې دا دعا ویل : « اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ »

[1] – رواه مسلم و الطبراني و ابن حبان .

دغه وخت به د جومات فرش ، آرایش او سینګار ته نه ګورئ بلکي په عاجزی سره دوه رکعته تحیة المسجد لمونځ وکړئ که ځای وي ښه دا ده چې دغه دوه رکعته لمونځ په ریاض الجنة کې ادا کړئ چې د منبر او حجرې ( د رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ) تر مینځ موقیعت لري ځکه دلته یې ادا کول مستحب دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي : «ما بین بیتي و منبر روضة من الریاض الجنة و منبری علی حوضي »[1]

( زما د کور او منبر تر مینځ باغ دی له باغونو د جنت څخه او زما منبر به د قیامت په ورځ په حوض کوثر باندې وي ) .

د تحیة المسجد د ادا کولو وروسته به د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک زیارت ته ورشئ په ټیټ آواز سره به سلام او درود ووایئ :

[ السلام علیکم أیها النبی ورحمة الله وبرکاة ، اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ، إنَّكَ حَمِيدٌ مَجيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إبْرَاهِيمَ، إنَّكَ حَمِيدٌ مَجْيدٌ] (البخاري) .

او یا یوازې داسې ویل : [السلام علیکم أیهاالنبی ورحمة الله وبرکاة] .

ورسته به لږ مخکې لاړ شې د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه زیارت به وکړئ بیا به لږ مخکې لاړ شې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه زیارت به ادا کړئ او بیا د دنیا او آخرت د فلاح د پاره دعا وکړئ .

کوښښ به کوئ چې څو یورې په مدینه منورې کې اوسیږې پنځه وخت لمونځ به په مسجد نبوی کې په پابندی سره ادا کوئ .

[1] – حدیث متفق علیه .

وروسته به جنة البقيع زيارت ته لاړ شي هلته د اسلام ډير فدايان اصحاب كرام خاورو ته سپارل شوي دي ، مسجد قبا ته به لاړ شئ هغه جومات كوم چې لومړى په اسلام كې آباد شوى دى ، بيا به جبل احد ته لاړ شي كوم ځاى چې د اسلام او كفر دوهم جنګ شوى دى د احد د شهيدانو دسته جمعي قبر زيارت به ادا كړئ او په خپل زړه او دماغ كې به د غيرت او جهاد ولولې تازه او ژوندى كړې .

د مسجد نبوي بنسټ د هجرت په لومړى كال د رسول الله صلى الله عليه وسلم لخوا كيښودل شو ، ساختمان يې خپله د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه صحابؤ رضى الله عنهم په مباركو لاسونو بنا شوى دى چې په دور نبوت كې يې مساحت تقريباً ۴۲۰۰ كزه ته رسيده وروسته د خلكو د زيادت او ګڼې ګونې له امله د اسلام په تاريخ كې څو ځلې پراخه شوى لكه د : حضرت عمر فاروق رضى الله عنه د خلافت په دور كې ، د حضرت عثمان رضى الله عنه په دور خلافت كې ، وليد بن عبدالملک خليفه عباسى ، سلطان عبد المجيد خليفه عثمانى ، ملک عبدالعزيز او ملک فهد بن عبدالعزيز لخوا پراخه شوى دى .

## شپږم فصل

## حج بدل

كه په يو كس باندې په اول كال كې حج فرض شي په همغه كال د حج د مناسكو مخكې وفات شي وصيت ته ضرورت نشته او هغه د غاړې فرض ساقط شول ځكه هغه د حج تر ورځو پورې ونه رسيدو[1] .

كه مخكې حج ور باندې فرض شوى وي ميت وصيت كړى وي نو د حج بدل د پاره به بل كس ليږل كيږي.

[1] – مناسک ملاعلى قاري رحمه الله نقل فى االفتاوى المحمودى حنفي.

که وصیت یې نه وي کړی د وفات شوي شخص پر ځای وارث یا بل کس حج ته لاړ شي د میت د طرفه نه ان شآء الله قبلیږي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حج ادا کول په مطلق ډول د دین (قرض یا پور ) سره تشبه کړی دی او د قرض په ادا کولو کې کچیرې د پوروړي د اجازت څخه پرته بل کس هغه ادا کړي او طلبکار هغه قبول کړي نو د پوروړی پور ادا کیږي همدارنګه که حج بدون د میت له وصیت نه د میت د طرف څخه ادا شي هلیه ده چې د قبول وړ وګرځي.

و في البحر:«وإن لم یوصُ فتبرع الوارث إما بالحج بنفسه أو بالإحجاج عنه رجلاً فقد قال أبو حنیفة: یجزئه إن شاء الله تعالی لحدیث الخثعمیة فإنه شبهه بدین العباد وفیه لو قضی الوارث من غیر وصیة یجزئه فکذا ...هذا وذکر الولوالجي أن قوله إن شاء الله تعالی علی القبول لا علی الجواز لأنه شبهه بقضاء الدین، ومن تبرع بقضاء دین رجل کان صاحب الدین بالخیار إن شاء قبل وإن شاء لم یقبل فکذا في باب الحج »[1].

**د حج بدل د پاره کوم کس لاړ شي :**

د حج بدل د پاره د داسې کس لیږل غوره دی چې هغه مخکې خپل حج کړی وي او که داسې کس پیدا نشي بیا د داسې کس لیږل جایز دي چې په هغه کس باندې حج فرض نه وي ،مګر د داسې کس لیږل چې پر هغه باندې پخپله حج فرض وي داسې کول مکروه دي[2] .

والله اعلم بالصواب

**حج اکبر کوم حج دی ؟**

محترمو سلامونه می ومنی یو سوال لرم هغه داچی حج اکبر ته ولی حج اکبر وایي او دا کله واقع کیږي اختر چی دجمعی په ورځ شي او یا که عرفه دجمعی په ورځ شي حج اکبر بلل کیږي؟

[1] – البحر الرائق:69/3 .

[2] – کفایت المفتي ج ۴ ص ۳۴۶ ، در المختار ،کتاب حج ۲ ۶۰۳.

ځواب:

دا خبره چې عوام الناس کې مشهوره ده چې کله د عرفې ورځ د جمعې له ورځې سره برابره شي نو حج حج اکبر ګرځي دا خبره هيڅ اصل نه لري او په دې باره کې هيڅ کوم شرعي دليل وجود نه لري .

حج اکبر څخه مراد خپله حج دى کوم چې په کال کې يو ځل په ټاکل شوي وخت کې ادا کيږي او د حج اصغر څخه عمره مراد ده .

شرح جامع الترمذي ليکي : فإذا علمت أن المراد بالحج الأكبر هو الحج نفسه احترازاً من الحج الأصغر وهو العمرة فاعلم أنه لا يوجد حج أكبر من حج. قال في تحفة الأحوذي شرح جامع الترمذي: تنبيه قد اشتهر بين العوام أن يوم عرفة إذا وافق يوم الجمعة كان الحج حجاً أكبر ولا أصل له. انتهى

او په قرآنکريم چې د يوم الحج الکبر يادونه شوي ده :

[وَأَذَانٌ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ إِلَى النَّاسِ يَوْمَ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ] [1] .

ژباړه: او د حج اکبر په ورځ د الله او د هغه د رسول له جانبه ټولو خلقو ته (دا) اعلان (او خبرتيا) دى.

د احنافو او امام شافعي په نزد د يوم الحج الکبر نه مراد د عرفې ورځ ده او د امام مالک په نزد د يوم الحج الکبر څخه مراد د لوى اختر ورځ ده (تفسير انوارالقرآن ) .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

[1] – سوره التوبه :٣ .

## د حج د فرضیت څو مهم مسائل

### آیا د حج فرض کېدل فوري دي که تأخیرپکې جایزدی ؟

د امام ابوحنیفه او امام ابو یوسف ، امام مالک او حنابله راحج قول دا دی چې : کله څوک د جح توان پیدا کړي نو فوراً به په همغه لومړي کال باندې حج کوي ، نورو کلونو ته تأخیر یې فسق ، شهادت یې نه قبلیږي ، په یو ځل ارتکاب یې نه فاسق کیږي مګر اصرار او نورو کلونو ته ځنډول یې فسق دی .

"قال أبو حنيفة وأبو يوسف والمالكية في أرجح القولين والحنابلة : يجب الحج بعد توافر الاستطاعة وبقية الشروط الآتية على الفور في العام الأول، أي في أول أوقات الإمكان، فيفسق وترد شهادته بتأخيره سنيناً؛ لأن تأخيره معصية صغيرة، وبارتكابه مرة لا يفسق إلا بالإصرار" [1]

مګر په نن عصر کې نوبت هم یو شرط دی ، که څوک وس وومومي هغه به فوراً په همغه کال ثبت نام کوي او نور به خپل نوبت ته منتظر وي .

### حج ته په بې نوبتی اورشوت سره تلل جایزدي ؟

په نن عصر کې د حج د فرض کیدو یو شرط نوبت یا په بچه اچونه کې د نوم وتل هم دي ، چا ته چې نوبت نه وي رسیدلی هغه به خپل نوبت ته صبر کوي ، د بل کس حق تلفي به نه کوي ، خیانت او جل کاري به نه کوي او رشوت به نه ورکوي بلکې خپل نوبت ته به انتظار کوي .

معاصرو فقهاؤ قرعه کشي په استطاعت کې داخله کړی ده یعنې په ځنو هغو هیوادو کې چې خلک د قرعه کشي یا نوبت او د شمیر د محدودیت له لارې ځي څوک چې مالي او بدني توانایي ولري او نوم یې په قرغه کشی کې ووځي هغه کس د حج د وجوب شرایط پوره کړل او د چا چې نوم په عرقه کشی کې را نه شي هغه کس په دغه کال کې د استطاعت شرایط پوره نه کړل ، او ده ته جایزه نه ده چې د

[1] – فقه الاسلامي وادلته ،الدر المختار: 2/191 ومابعدها، البدائع: 2/119 .

حج د نوبت د پاره رشوت ورکړي ځکه رشوت کبیره ګناه ده ، «لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي» او يا څه جلكاري وكړي ځکه جلکاري فريب دی او فريب حرام دی .

جاء في الاسلام ويب مركز الفتاوي :

وإذ كان الحج في البلد الذي أنت فيه لا يتم إلا عن طريق القرعة فإن خروج الاسم في القرعة من تتمة شروط الوجوب فلا يتجه الوجوب قبل خروجه ولا يجوز التحايل لأجل إخراجه خصوصاً إذا كان التحايل برشوه فعن عبد الله بن عمر قال: ″لعن رسول الله صلى الله عليه وسلم الراشي والمرتشي″ . [قال الترمذي هذا حديث حسن صحيح] وزاد في الحكم .

والله تعالى أعلم.

فتاوي الاسلام سوال جواب :

وقد لا يستطيع الغني صحيح البدن في زمننا هذا الذهاب إلى مكة المكرمة لأداء فريضة الحج ، لما اتفق عليه من سفر عدد محدد من كل بلد ، وقد ذهبت بعض الدول لاعتماد طريقة الأقدم في الميلاد ، ودول أخرى ذهبت لاعتماد طريقة القرعة ، فصار هذا الأمر داخلاً في الاستطاعة الشرعية ، فمن لم يكن سنُّه يؤهله للحج على حسب ترتيب بلده ، أو لم يظهر اسمه في القرعة : لا يعدُّ مستطيعاً ، إلا أن يملك وسيلة أخرى مباحة لا يأخذ بها حق غيره فيكون حينئذٍ من المستطيعين

و الله سبحانه و تعالى اعلم

## د فرضي حج څخه مخکې عمره کول جايز دي ؟

د حج د فرضيه د ادا كولو مخكې د عمرې كول په اتفاق د فقهاؤ جايز دی ځکه جناب نبی کریم صلى الله عليه وسلم د حج د ادا څخه مخکې درې ځله عمره ادا کړې ده .

فإنه يجوز تقديم العمرة على الحج، فمن أراد أن يعتمر قبل أن يحج فلا حرج عليه في ذلك، وهذا أمر مجمع عليه بين العلماء، كما قال أبو عمر بن عبد البر: قال الزرقاني في شرح الموطأ عند شرح

حديث مالك عن عبد الرحمن بن حرملة أن رجلاً سأل سعيد بن المسيب فقال: أأعتمر قبل أن أحج فقال سعيد: نعم، قد اعتمر رسول الله صلى الله عليه وسلم قبل أن يحج ثلاث عمر، قال ابن عبد البر: يتصل هذا الحديث من وجوه صحاح وهو أمر مجمع عليه لا خلاف بين العلماء في جواز العمرة قبل الحج لمن شاء وفي الصحيح أن عكرمة بن خالد سأل ابن عمر عن العمرة قبل الحج فقال: لا بأس اعتمر النبي صلى الله عليه وسلم قبل أن يحج. انتهى.

حج هغه وخت فرض دی چې کله د استطاعت ټول شرايط برابر شي چې په نن عصر کې د استطاعت يو شرط نوبت دی .

و الله سبحانه و تعالى اعلم

## که څوک د نوکرۍ په حالت چې حج وربانديې فرض نه وي حج وکړي ايا د اسطاعت نه پس په هغه دوباره حج فرض دی ؟

دوباره پرې حج فرض نه دی ،فرض حج ادا شو[1] .

"فرض الحج مرة لان سبب البيت وهو واحد و زيادة تطوع"[2] .

## د تي خوري ماشوم سره حج ته تلل جايزدي ؟

که په ماشوم باندې د خپلې مور سفر کول تأثير نه کوي او طفل ته ضرر نه وي کومه بله ښځه وي چې د هغې خدمت وکړي د مور د شيدو بغير نورې شيدې خوړلای شي نو بيا څه حرج نشته چې بدون له خپل بچي د حج سفر وکړي .

مګر که طفل ته د ضرر ويره وي نو جايز نه دی اګر که فرضي حج هم وي ځکه تي ورکونکي ښځې ته دا رواه ده چې فرض روژه ما ته کړي په هغه صورت کې چې پر خپل طفل وويريږي، نو څنګه به حج نشي ځنډولای چې کله پخپل طفل وويريږي ؟

---

[1] – فتاوى دارالعلوم ديوبند ج ۶ ص ۳۶۳ .

[2] – الدرالمختار على هامش –كتاب حج :۱۹۰/۲.

نو په داسې حالت کې به حج ځنډوي ځکه چې په دې حالت کې په هغې حج بالفور فرض نه دی .

ولدينا طفل عمره أربعة أشهر وهو يرضع من أمه ، فهل تحج أم تبقى عند طفلها ، وهل الأفضل إذا حجت أن تأخذ حبوباً لإيقاف دم الحيض أم لا تأخذ أفيدونا وفقكم الله ؟ فأجاب : " إذا كان الطفل لا يتأثر ولا يتضرر بسفرها عنه ، بأن يرضع من لبن غير لبن أمه ، وعنده من يحضنه حضانة تامة ، فلا حرج عليها أن تحج خصوصاً إذا كانت فريضة ، أما إذا كان يخشى على الطفل ، فإنه لا يحل لها أن تحج ولو كانت حجة الفريضة ؛ لأن المرضع يباح لها أن تدع صيام الفرض إذا خافت على ولدها ، فكيف لا تدع المبادرة بالحج إذا خافت على الولد ؟ فإذا خافت على الولد فإن الواجب أن تبقى ، وإذا كبر في العام القادم حجت ، ولا حرج عليها إذا بقيت وتركت الحج ؛ لأن الحج في هذه الحالة لا يجب عليها على الفور (موقع الاسلام السوال وجواب )

**د بل په کومک حج کول جایزدي ؟**

پوښتنه : زه په يوه شرکت کې کار کوم . دا شرکت ځنې کارکونکې د سن او د خدمت د مودې په حساب په خپل خرڅ حج ته ليږي ايا دا حج صحي دی او که نه ؟

ځواب (علماء البلدالحرام ): هو دا حج صحي او جايز دی انسان کولای شي له بل چا څخه تبرع (کومک ) قبول کړي او په هغه پيسو باندې د حج فريضه ادا کړي او په دې ډول مسائلو کې غالباً منت هم نه وي ځکه چې دا يو مشترک نظام دی چې ټول پکې مساوي وي او کار کوي.

مګر که دا تبرع (کومک ) د يو معلوم شخص وي د هغې قبلول مناسب نه دي ځکه په دې کومک کې د منت خطره وي .کيدای شي يوه ورځ ووايي : زه هغه سړی يم چې تا ته مې د حج پيسی درکړې وې چې حج ور باندې وکړ او............ په هر حال که څوک د يو معلوم کس په کومک حج ته لاړ شي باک نه

لري مګر لکه څنګه مو چې ذکر کړل کچیرې دا پیسې د یو معین شخص وي د هغه قبول مناسب نه دي او که د یوه شرکت او کمپنۍ وي د هغه قبلول مشکل نه لري ځکه چې عمومي جنبه لري[١].

د قرض مسئله:

بله دا مسئله چې که په کوم سړې باندې قرض وي که د قرض نیته پوره وي که اجازه هم ورکړي د قرض ادا کول په حج باندې مقدم دي.

مګر که د قرض نیته نه وي پوره شوی او پوروړی پر ځان پوره اطمنان ولري چې د نیتې په پوره کیدو سره زه قرض ادا کولای شم نو بیا د حج کول جایز دي[٢].

## ښځه د محرم څخه پرته حج ته تلای شي ؟

ښځې ته بغیر د محرم څخه حج ته تلل جایز نه دي ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځې د محرم بغیر سفر کولو څخه منع فرمایلي ده : «لا تسافر امرأة إلاّ مع ذي محرم» (ښځې به د محرم کس بغیر سفر نه کوي )[٣].

و فی الدر : لان المحرم من السبیل[٤].

و مع زوج او محرم ........... و لو عجوزا[٥].

لکن که څوک بغیر له محرم څخه حج وکړي داسې کول د مکروه تحریمي سره صحیح وي .

د حج فرض ادا شول لکن د محرم څخه بغیر سفر کول ګناه ده .

و فی الدرالمختار : و لو حجت بلا محرم جاز مع الکراهیة[٦].

و جاء فی الفتاوی الحرم المکي :

---

[١] – فتاوي معاصر علماء البلداحرام (276/1).
[٢] – فتاوي البداحرام (91/21)– س(95، 96) .
[٣] – کفایت المفتي ج ۴ ص ۳۴۵ .
[٤] – الدرالمختار ۴۶۴/۲ .
[٥] – الدالمختار ۲ / ۴۶۴ .
[٦] – الدرالمختار ، کتاب الحج ۲/۴۶۵.

إذا حجت المرأة بدون محرم فهل حجها صحيح وهل الصبي المميز يصلح أن يكون محرماً؟

الجواب : أما حجها فصحيح ، ولكن سفرها بدون محرم ، محرم ومعصية للرسول صلى الله عليه وسلم لقوله صلى الله عليه وسلم : ((لا تسافر امرأة إلاّ مع ذي محرم)) ، والصغير الذي لم يبلغ لا يصلح أن يكون محرماً لأنه هو نفسه ليحتاج إلى ولاية ، وإلى نظر ومن كان كذلك لا يمكن أن يكون ناظراً أو ولياً لغيره والذي يشترط أن يكون المحرم ذكراً بالغاً عاقلاً ، فإذا لم يكن كذلك فإنه ليس بمحرم وها هنا أمر نأسف له كثيراً وهو تهاون بعض النساء في السفر[1] .

و الله سبحانه وتعالى اعلم

[1] – فتاوى الحرم المكي 49/3 .

**مأخذونه**

د قرآنکریم تفسیر او ترجمه

د احادیثو کتابونه

موسوعة الفقهية

فقه الاسلامي و ادلته

فقه المناسک (الاکادیمیة الاسلامیة)

البحر الرائق

الدرمختار

معلم الحجاج

کیف یؤدی المسلم مناسک الحج و عمرة (محمد حسان عبدالغفار)

المناسک الحج السعویة

المسائل في الحج والعمرة والزيارة (الشيخ خالد بن عبد العزيز الهويسين )

الخلاصة من أحكام الحج و العمرة (فؤاد بن عبد العزيز الشلهوب )

كفايت المفتي

فتاوي المحموديه

فتاوي دارالعلوم ديوبند

فتاوي اللجنة الدائمة

فتاوي الأسلام ويب

فتاوي الأسلام سوال جواب

فتاوي علماء البدالحرام